# شریعت

په اوونۍ کې دوه خله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۰۸) ګڼه / پنجشنبه ۱٤ جمادی الاول ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۱۷ قوس ۱٤۰۱ هـ.ش/ ۰۸ دسمبر ۲۰۲۲ میلادي


**د عامې روغتیا وزارت:**

## پر ملاتړ کوونکو موسسو د تکیې کمولو او ځان بسیاینې ګړندی هڅې کوو

د عامې روغتیا وزارت مسوولین وايي، چې د را روان ژمي لپاره یې د هېواد ټولو برخو ته درمل او اړین روغتیایي توکي رسولي دي، تر څو د واورې په ورېدو سره روغتیایي خدمتونه له خنډ سره مخ نشي.

د یاد وزارت ویاند ډاکټر شرافت زمان امرخېل له باختر آژانس سره په مرکه کې وویل، چې پر سپانسرکوونکو او ملاتړ کوونکو موسسو د تکیې د راکمولو او د ځان بسیاینې په موخه یې ګړندۍ هڅې پیل کړې دي.

زمـان همدارنګه وویل، چې دمګړۍ د هېواد په ټولو روغتیایي مرکزونو کې روغتیایي چوپړتیاوې په ښه او معیاري توګه ترسره کېږي او د لا ښه کولو په موخه یې کار روان دی.

د عامې روغتیا وزارت ویاند زیاته کړه، چې د روان کال په لړ کې د سرپرست وزیر بهرني سـفرونه له لاسته راوړنو ډک وو، چې له دې ډلې څخه یې د یو شمېر مهمو تړونو لاسلیکول او تر دې وروسته هر کال یو شمېر افغان ډاکټران د تخصصي زده کړو په ... ۷مخ

**د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال:**

## هر څوک چې هېواد ته را وګرځي، دلته به یې عزت خوندي وي



شریعت: د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر پرون د تېرې اداري د ولسي جرګې له دویم مرستیال نجیب الله ناصر سره چې تازه هېواد ته راستون شوی په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې کتنه کې نجیب الله ناصر هېواد ته پر راتللو خوښي وښوده او له اسلامي امارت څخه یې مننه وکړه، چې د افغان شخصیتونو د بېرته راستنولو لپاره یې کمېسیون رامنځته کړی او عمومي عفوه یې اعلان کړې ده.

ناصر وویل، چې ټول افغانان ... ۷مخ

## فراه کې پر یوه قاتل د قصاص حکم تطبیق شو

شریعت: د اسلامي امارت سترې محکمې له لوري پرون د فراه ولایت په مرکز کې په یوه کس د قصاص حکم تطبیق شو.

د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې دغه کس تاجمیر نومېده، چې شاوخوا ۵ کاله وړاندې یې د فراه ولایت د پشت کوه ولسوالۍ اړوند د ګنګ په کلي کې د مصطفی په نوم یو کس په ډېره بې رحمۍ سره په چاقو وژلی وو او د نوموړي موټر سایکل او ټلیفون یې له ځان سره وړي وو.

خبرپاڼه کې راغلي، چې د تورن قضیه د دریو واړو (ابتدایه، استناف او تمیز) محکمو په پوره غور سره څېړلې او د قصاص حکم یې پرې کړی دی.

سرچینې همدارنګه ویلي، چې د قصاص دغه پرېکړه د دریو واړو محکمو تر تائید وروسته عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله ته... ۷مخ

**معاون اداری ریاست الوزراء**

## کار فازل اول کانال قوش‌تیپه یکسال کمتر از وقت تعیین شده تکمیل می‌شود

شریعت: مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا هنگام بازدید از کار کانال قوش تیپه بیان داشت: امارت اسلامی متعهد به اکمال کار این کانال است.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا دیروز با نشر خبر نامه یی گفته است: مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا روز گذشته طی سفر... ص۷

## دفاع وزیر دوبۍ کې مېشتو افغانانو ته د ستونزو د حل ډاډ ورکړ



شریعت: د ملي دفاع سرپرست وزیر مولوي محمد یعقوب «مجاهد»، متحده عربي اماراتو ته د خپل سفر په ترخ کې پرون په دوبۍ کې له مېشتو افغانانو سره وکتل.

په دې کتنه کې د ملي دفاع سرپرست وزیر په دوبۍ کې د مېشتو هېوادوالو د ستونزو له اورېدو وروسته هغوی ته ډاډ ورکړ، چې د دوی ستونزې ... ۷مخ


## رفع مشکل کمبود کتب درسی در مکاتب بغلان

شریعت: مشکل نبود و کمبود کتب درسی در مکاتب بغلان مرفوع شد.

مسوولان ریاست معارف بغلان می گویند که یک میلیون و ۳۰۰ هزار کتاب درسی به این ولایت ارسال شده است.

مولوی محمد نور عزیزی، رئیس معارف ولایت بغلان گفت: که وزارت معارف، یک میلیون و سه صد هزار جلد کتاب درسی جدید از صنف اول الی دوازدهم به ولایت بغلان فرستاده است و قرار است توسط هیئت موظف به مکاتب آن ولایت ... ص۷

## ننګرهار کې د ۲۶ میلیونه افغانیو په لګښت ٤ پروژې بشپړې شوې



شریعت: د ننګرهار د سینډیزې حوزې مسوولین وايي، چې د یاد ولایت په خوګیاڼو او شېرزادو ولسوالیو کې ۴ پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

د ننګرهار سینډیزې حوزې رئیس سید فضل احد پاچا وویل، چې د UNDP موسسې په مالي ملاتړ او د اسلامیک ریلیف مؤسسې په تخنیکي همکارۍ ۲ کانالونه په خوګیاڼو او ۲ په شېرزادو ولسوالۍ کې بشپړ شوي دي. ۷مخ

## د کندهار د صنایعو او کانونو خونې لپاره نوې ودانۍ جوړېږي

د ښوراندام صنعتي پارک په شمالي برخه کې د کندهار والي حاجي محمد یوسف وفا له لوري د کندهار د صنایعو او کانونو خونې لپاره د نوې ودانۍ د رغولو چارې رسماً د ډبرې په اېښودلو سره پیل کړې. ۷مخ



## د الهي احکامو تطبیق د ټولنې یو اهم ضرورت دی!
٤ مخ

## جوانان و معضل بیکاری
ص۲

## دولتي ځمکو اوس مالک وموند!
۳مخ

## د کانونو او پټرولیم وزیر د نفرایټ کانونو د قراردادي شرکتونو ستونزې واورېدې

شریعت: د نفرایټ کانونو د قراردادي شرکتونو یو شمېر استازو، د کانونو او پټرولیم له سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سره په کتنه کې، خپلې ستونزې او وړاندیزونه شریک کړل.

د کانونو او پټرولیم وزارت پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې په دې کتنه کې، د شرکتونو استازو د نفرایټ ډېرو ... ۷مخ

### سرمقاله

## نړیوال دې هم زموږ د ځمکنۍ بشپړتیا احترام وکړي!

د معلوماتو له مخې دفاع وزیر ښاغلي محمدیعقوب مجاهد په عربي اماراتو کې له امریکایي ځانګړي استازي تام وست سره په خبرو اترو کې غوښتنه او سپارښتنه کړې چې نړیوال هم باید د افغانانو دا حق وپېژني او ومني چې همدا ملت د خپلې خاورې مالک او واکمن دی، باید د ځمکنۍ بشپړتیا احترام یې وشي او له بې ځایه مداخلو لاس واخیستل شي.

حقیقت دا دی چې افغان دفاع وزیر پرته له شکه امریکایي استازي ته انتهایي پخه، واقعي او رښتیني خبره کړې او نوموړي ته یې په واضح ډول دا پیغام ورکړی چې که نړیوال پر موږ باندې خپل یو درجن فرمایشونه او شرطونه منل او تپل غواړي نو لږ تر لږه دوی خو دې هم دومره ومني چې د افغانستان په نامه او نقشه دا خاوره او هېواد خپله د افغانانو ملکیت دی او دلته د نړۍ هیڅ کوم بل ملت د یرغل او مداخلې حق نه لري. افغانان په داسې حال کې له نړیوالو د دغه شان متقابل احترام هیله من دي چې هیڅکله یې نه د سیمې او ګاونډ په هېوادو کې څه غرض او مداخله کړې او نه یې لیرې هېوادو ته کوم خطر او زیان رسولی دی. آیا په ټوله بشري نړۍ کې به داسې کوم منصف پیدا شي چې د افغان- شوروي جګړه کې افغانان ملامت وګڼي؟ یا بـه دا ثبوت څوک وړاندې کړی شي چې د امریکې او ناټو اته څلوېښتو یرغلګرو هېوادو له جملې پر کوم یوه یې افغانانو تېری کړی وي؟ خو له بده مرغه همداسې بې غرضه او بې دلیله حالت کې بیا هم شوروي لښکرو افغانستان کې څو میلیونه افغانان ووژل او هر څه یې ور تبا او برباد کړل. دا لا څه چې بیا مولا د ارام سا نه وه اخیستې چې اته څلوېښتو نورو هېوادو له ځمکې او فضا په ظالمانه یرغل لاس پورې او تر شلو کلونو دلته هغه کانې وکړې چې ګندګې یې په سلو کلو کې هم نه شي پاکېدلی! له دواړو شرقي او غربي یرغلونو سره افغانانو په تش لاس او انتهایي بې وزلۍ او محرومیت کې فقط د خپلو ټټرونو په سپر کولو مقابله وکړه او د میلیونونو ککریو په قیمت یې پس له څلورڅلوېښت کلونو پر له پسې مبارزې ایله په کامله توګه د خپل هېواد ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکي تر لاسه، پردۍ اجیرې ملیشې او ملوک الطوایفي ختمه او یو مستحکم مرکزي نظام جوړ کړی شو. په دې حساب اوس دلته د نا امنۍ، خپل سرۍ او بدماشۍ هیڅ کوم معلوم آدرس نه تر سترګو کېږي، خو متأسفانه بیا هم یو شمېر مغرض او معاند هېوادونه او کړۍ لګیا دي افغانستان ... ۷مخ

**معاون برنامه‌های انکشافی سازمان ملل:**

## برای سه سال آینده پروژه‌های انکشافی زیادی روی دست داریم




شریعت: مولوی صدراعظم معین زراعت و مالداری وزارت زراعت، آبیاری و مالداری با خانم سوراپو معاون برنامه‌های انکشافی سازمان ملل دیدار کرد و روی راه‌اندازی پروژه‌های زراعتی بحث کرد. ص۷


## د ټولګټو سرپرست وزیر د غزني - مقر سړک د اساسي ترمیم چارې وارزولې



دټولګټو سرپرست وزیر ملاعبدالمنان عمري، د کابل - قندهار لویې لارې اړوند د غزني - مقر لاتې سړک د اساسي ترمیم چارې له نږدې وارزولې.

د ټولګټو وزارت پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د ټولګټو سرپرست وزیر د یادې لویې لارې ترسره شوې چارې مثبتې... ۷مخ

## پروان کې ۵۶۱ جریبه دولتي ځمکه تثبیت شوه



د پروان د ځمکو د غصب د مخنیوي تخنیکي هیئت د ناستې په جوړولو او د میاخېل، ملا محمد خېل او ناصري کلیو د ځینو برخو په لیدني سره، ۵۶۱.۷۳ جریبه امارتي ځمکه تشخیص او د هغې غاصبان یې مشخص کړل. ۷مخ

**سرپرست هلال احمر افغانی:**

## ۲٤ هزار تن در سراسر کشور در بخش کارهای رضاکارانه فعالیت دارند

شریعت: سرپرست هلال احمر افغانی در نشست روز رضاکاران گفت که رضا کاران، اساس و ستون فقرات این جامعه هستند.

دفترمطبوعاتی هلال احمرافغانی دیروز با نشر خبرنامه یی گفت که از روز ملی رضاکاران، به اشتراک مولوی مطیع الحق خالص سرپرست هلال احمر افغانی، مولوی نورالدین ترابی... ص۷

## نورستان کې هغه دښمني پای ته ورسېده، چې ۲٦٤ کسان په کې وژل شوي وو

د نورستان د کامدېش او کشتوز قومونو ترمنځ د اوبو او د ځمکې په سر راولاړه شوې شخړه له سلو کلونو وروسته حل شوه.

د باختر آژانس د خبر له مخې؛ په همدې موخه جوړه شوې ... ۷مخ



## تکمیل شدن کار اعمار یک سرک در کابل

شریعت: کار ساخت یک سرک و تنویر جاده ها در مربوطات ناحیهٔ هفتم شهر کابل تکمیل شد. و توسط مولوی عبدالرشید شاروال کابل افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

این دو پروژه شامل ساخت سرک به درازی ۵۵۰ متر و پهنای ۵ متر و همچنان ... ص۷

## د هېواد په ۵ ولایتونو کې سلګونو بې وزله کورنیو مرسته ترلاسه کړه

په لغمان، روزګان، پکتیکا، نورستان او نیمروز ولایتونو ۱۸۵٦ بې وزله کورنیو مرسته ترلاسه کړه.

په لغمان کې ۱۳۰ ښځو ته د کورني اقتصاد د پیاوړتیا لپاره د روټس.آف. پیس. موسسې په تخنیکي همکارۍ او د UNDP موسسې په مالي ملاتړ د مېوو او سبو د پروسیس لپاره ۱٦ قلمه ډول - ډول وسایل ورکړل شول.

د یو بل خبر له مخې؛ د روزګان په چوره ولسوالۍ کې د ADA موسسې په مالي ملاتړ ۱۰۰۰ کورنیو ته د حیواناتو د ګنجورۍ د وېش لړۍ پیل شوه، چې په کې به هرې کورنۍ ته ۴ بوجۍ ... ۷مخ

# جوانان و معضل بیکاری

**اسفندیار**

بی‌کاری آفتی است که از دهه‌ها بدینسو دامن‌گیر مردم افغانستان و مشخصاً نیروی کاری آن است. امروزه اگر سراغ قشر جوان و تحصیل یافته را بگیریم شمار محدود را خواهیم یافت که در ادارات دولتی و موسسات خصوصی مصروف کاراند. این تعداد معدود هم استخدام وجابجایی خویش را عبور از هفت خوان رستم می‌گویند و آن را مرهون تلاش‌های بدون وقفه خویش می‌دانند.

اما قابل نگرانی، آن قشر بزرگی است که پس از سپری نمودن دوره تحصیل روزانه به ده‌ها مشکل روبرو می‌شوند. این جوانان که دست کم شانزده سال با تمام مشقات درس خوانده اند و از سایر مهارت‌ها و کارهای حرفوی دیگر نیز دور مانده اند سخت است تا کارهای دیگر جز تخصص و رشته تحصیل شان را انجام دهند. اما نبود کار سبب گردیده تا ناامید و پریشان دست به کار شاقه بزنند و یا هم راه مهاجرت در پیش گیرند.

این جوانان با اینکه در بخش‌های مختلف متخصص اند، اما مضطرب آینده نامعلوم شان اند و از ادامه این وضعیت به شدت نگران اند. ممتاز یکی از این بی‌کاران تحصیل دیده است که از سه سال به اینسو در صدد دریافت کار می باشد، اما تاهنوز با این که خیلی تلاش به خرج داده، کار گیرش نیامده است. به گفتهٔ ممتاز، بیکاری اش دلیل بر این نیست که لیاقت کم بوده، بل او میگوید در زمان حکومت گذشته حقش برای کسانی داده شد که به اساس روابط پست ها را اشغال می‌کردند.

وی گفت: با وجود اینکه من در زمان حکومت قبلی بیش ازبیست بار در ادارات دولتی امتحان دادم، هر بار سولات را کامل حل می‌کردم، ولی هرچند که انتظار می کشیدم با من تماس گرفته نمی‌شد بعد از چند روز مراجعه می‌کردم، می‌دیدم کسی که در جریان امتحان بی کفایت ترین نفر بود، پست را اشغال می‌کرد. اشکارا همه چیز به اساس پول و روابط صورت می‌گرفت.

وی میگوید که امید وارم حکومت امارت اسلامی مشکلات جوانان را در قسمت بی کاری حل کند و راهکارهای را در این خصوص روی دست گیرد. چون همه روزه بر شمار جوانان بیکار در کشور افزوده می‌شود.

عبدالخالق که بیست و هفت سال سن دارد، به علت بیکاری مجبور شده به خارج سفر کند وی میگوید: وظیفه و مسوولیت که در قبال خانواده دارم بر دوشم سنگینی می‌کند، ناگزیر خواستم عزم سفر نمایم، عبدالخالق که دوبرادر کوچک در حال فراگرفتن درس دارد می‌خواهد آن‌ها را دست گیری نماید، وی گفت: در جریان فراگیری تحصیلاتم، خانواده‌ام با مشکلات فراوان رو برو بود، اما من را از پول قرض و یا از طریق به فروش رساندن حیوانات مانند بزوگوسفند شان کمک می‌کردند، اما وقتی فارغ شدم بیکار ماندم و متوجه شدم که هیچ کاری برای شان نمی‌توانم بیشتر درد می‌کشیدم و بیشتر از گذشته احساس مسوولیت می‌کردم، به هر اداره سر می‌زدم می‌گفتند، تقرری بند است، راه دیگری به ذهنم نرسید خواستم به خارج سفر کنم تا بتوانم خانواده ام را کمک نمایم و برادر های کوچک خود را به تحصیل شان یاری رسانم.

محمد علی صمیمی فارغ التحصیل پوهنحی حقوق وعلوم سیاسی است، او سال ها قبل به درجه لیسانس درس هایش را به پایان رسانده است و مدت دوسال در یک موسسه ارتقای استادان مکاتب مصروف کار بوده ولی بعد از آن که قرار دادش به پایان رسید بی‌کار است، وی چنین گفت: اکثر جوانانی تحصیل دیده که من از آنها شناخت دارم پس از اتمام درس شان مطلق بی‌کار هستند. همچنان مثل همیشه بار دوش خانواده های شان میباشند. همینگونه امروزه تعداد کثیری از جوانان فارغ التحصیل در چهارراهی‌ها برای مزدورکاری ایستاده اند که آن هم گیرشان نمی شود. پس چه امید میتواند مارا به آینده خوش بین کند، پیام من برای مسؤولان این است که به آینده کشور ومردم این مملکت بیشتر تلاش نمایند. «روزانه اگر یک بار به چوک های مزدحم سربزنید خواهند دید که چه فلاکت دامن گیر قشر جوان است؛ گردن کج دل پریشان منتظر مزدورکاری استند که آن هم گیرشان نمی شود.»

آقای صمیمی می افزاید، بر فرض اگر جوانان تحصل کرده در ادارات دولتی هم استخدام شوند به دلیل نداشتن تجارب نا گزیر اند از بست های پایین کار شان را شروع کنند و معاشی که از این طریق به دست می آید به هیچ عنوان برای مصارف زندگی کفایت نمی کند. امید واریم حکومت در این زمینه هم توجه نماید و با توجه به گرانی بازار و بلند رفتن بهای مواد خوراکی معاش مامورین را بلند ببرد.

طاهر باشنده ولایت غور همچنان مانند سایر جوانان بیکار است، اما او ناامید نیست. وی میگوید کشور ما برای جوانان مثل من نیاز مبرم دارد. فقط گذشت زمان می‌تواند به این معضل پاسخ بدهد.

طاهر معتقد است که اکنون یک فصل جدید در کشور آغاز شده و کمی زمان نیاز دارد، سپس کاریابی و اشتغال زایی بیشتر خواهد شد ونقش جوانان بیشتر از هروقت لمس خواهد گردید، چون جوانان امروزی با معیار های تخصصی اموزش دیده اند. بناً دولت و موسسات ناگزیر اند، به منظور پیشرفت و ترقی کشوراین کادرهای تخصصی را جذب و از ایشان کار بگیرند، مشروط بر این که دولت هم باید روی جوانان سرمایه گذاری کند واز راه های ممکن استعداد های جوانان را شناسایی نماید، آنگاه است که کشور ما از این فقر و بیچارگی نجات می یابد.

با این حال شماری از جوانان با انتقاد از کار کرد حکومت پیشین و هدر دادن وقت و پول‌های هنگفت، از تجارب و طعم تلخ بیکاری های شان در چند سال گذشته حکایت‌های بسیاری دارند و راه حل برای بیکاری را یک کار دشوار می‌دانند و می‌گویند حکومت گذشته با اینکه وعده های پی در پی می‌داد ولی در حصه جوانان وبی‌کاری مردم هیچ اقدامی نمی‌کرد، فساد و خویش خوری بود و حتی از مسایل داخلی خویش فارغ نمی‌شد چه میرسید که در حق جوانان کار می‌کرد.

این جوانان اکنون از حکومت امارت اسلامی تقاضا دارند تا به مشکلات این قشر توجه کند و نگذارد که جوانان به دریا ها و راه های کشور های خارج جان های شیرین شان را از دست دهند.



# نگاهی به حکومت‌داری الکترونیکی

**ابوالیاس جهادوال / بخش پنجم - نهایی**

در شماره‌های قبلی در رابطه به نوعیت، تاریخچه، تعاریف، خدمات، مزایا، مدل‌ها، شرایط تحقق و نقش این شیوه حکومتداری الکترونیکی درتأمین شفافیت و همچنان ارزش‌های اقتصادی ـ اجتماعی، راه‌کارها، عوامل ایجاد، مراحل تطبیق و مشکلات آن اشاره شد. بناءً در این بخش در رابطه به روند حکومت‌داری در افغانستان توضیحات ارائه می‌شود:

در افغانستان نیز اندکی پس از تجاوز اشغالگران صلیبی بر این کشور در سال ۲۰۰۱ میلادی، گام‌های در راستای تحقق حکومت‌داری الکترونیکی برداشته شد، زیرا حکومت تحت الحمایه کشورهای غربی ناگذیر بود خود را با سیستم‌های الکترونیکی کشورهای ناتو هماهنگ سازد تا از آن طریق در تعامل با کشورهای کمک کننده فرصت تبادله آمار و اطلاعات نظامی و مالی را به‌صورت آنلاین فراهم شود که بالاخره در سال ۱۳۹٤ به‌گونه رسمی روند الکترونیکی سازی امور حکومت‌داری را آغاز کرد که بخش‌های عمده آن شامل توزیع تذکره الکترونیکی، ایجاد مرکز معلومات دولتی، ایجاد شبکه‌های خدماتی داخلی، مرکز ثبت خودکار همانند؛ ثبت اسناد زمین، تذکره، پاسپورت و تدوینِ فورم‌های دولتی در کشور بود.

متعاقباً در ۳۰ دلو سال ۱۳۹۷ هـ ش نهادی تحت عنوان « مرکز حکومت‌داری الکترونیکی» زیر چطر وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی ایجاد گردید که هدف آن آموزش کارمندان مسلکی، تخنیکی و تحقیقی، فراهم سازی زمینه تحقیقات علمی از سوی متخصصین تخنیکی برای معرفی تکنالوژی‌های معاصر و استفاده از آن در بخش‌ها و سکتور های مختلف، تدوین پالیسی‌ها و استراتیژی های مربوط به حکومت‌داری الکترونیکی و اتصال سیستم‌ها در کشور بود.

به همین‌منظور سیستم‌های در ادارات عواید و گمرکات، تحصیلات عالی، منابع آب، فواید عامه، ترانسپورت، معارف، صحت، زراعت و معدن ایجاد گردید که ذریعه آن استندردها، پالیسی‌ها و رهنمودهایی برای حکومت‌داری دیجیتلی معرفی و تطبیق می‌شد>

گام‌های عمده‌یی که آن زمان در راستای تطبیق حکومت‌داری الکترونیکی برداشته شد عبارت از روند دیجیتل‌سازی تذکره الکترونیکی و فراهم نمودن ابزارهای تخنیکی آن، دیجیتل‌سازی روند توزیع پاسپورت، جوازسیر وسایط، جواز دریوری، ایجاد دیتابیس منظم برای سوانح کارمندان وزارت مخابرات، ثبت و بایمیتریک کارمندان نظامی و ملکی و نصب سیستم‌های جمع آوری عواید در گمرکات و بخش‌های عایداتی کشور بود.

اما پس از حاکمیت دوباره امارت اسلامی و سقوط نظام جمهوریت حکومت‌داری الکترونیکی نیز با رکود مواجه شد و بیشتر سیستم از فعالیت باز ماند. به‌طور مثال سیستم اسیکودای بخش عواید و گمرکات وزارت مالیه که سیستم مرکزی آن از سوی مشاورین خارجی کنترول می‌شد، با خروج آنها از کار افتاد. هم‌چنان ۷۰ درصد سیستم‌های الکترونیکی کنترول میدان‌های هوایی کشور هنگام خروج نیروهای خارجی و حامیان داخلی آن‌ها تخریب و از استفاده باز ماند. علاوه بر آن سیستم بایمتریک نهادهای امنیتی ( وزارت دفاع ملی، امور داخله و ریاست عمومی استخبارات) که از سوی وزارت دفاع ایالات متحده ( پنتاگون) اداره می‌شود، غیر قابل درسترس شده و از کنترول خارج گردید.

اما بنا بر توجه مقامات امارت اسلامی و تلاش‌های تیم‌های تخنیکی در کمترین زمان لینک خارجی سیستم بایمتریک نیروهای امنیتی از وزارت دفاع امریکا قطع و تحت مدیریت در آورده شد که اکنون بدون حمایت خارجی از سوی تیم تخنیکی کشور اداره می‌شود.

مسولان امارت اسلامی در اقدامی دیگری با عقد قرارداد با کمپنی «گاگ» امارات متحده عربی سیستم‌های الکترونیکی چهار میدان هوایی کشور ( کابل، کندهار، مزارشریف و هرات ) دوباره بازسازی و به بهره برداردی سپرده شد که اکنون ترانسپورت هوایی کشور دوباره به حالت عادی برگشته است.

هم‌چنان وزارت مالیه پس از اندکی تأخیر سیستم‌های عصری همچون سیستم جهانی اسیکودا، افمیس و سکتاس را در بخش گمرکات، خزاین و عواید، دوباره فعال نمود که در نتیجه با تأمین شفافیت و جلوگیری فساد عواید داخلی کشور به‌طور بی پیشینه‌یی افزایش یافت و در طول تاریخ کشور برای اولین بار بودجه ملی برای ربع آخر سال ۱٤۰۰ مبلغ ۵۳ میلیارد افغانی و برای سال ۱٤۰۱ مبلغ ۲۳۱ میلیارد افغانی از عواید داخلی تأمین گردید.

هم‌چنان به‌منظور انکشاف روند الکترونیکی سازی امور حکومتی در این اواخر تفاهم‌نامه‌یی میان وزارت مالیه، اداره ملی احصائیه و معلومات و «د افغانستان بانک» به امضاء رسید بر مبنای عایدات داخلی به شکل درست از طریق سیستم برقی در خزانه دولت واریز می‌شود که این کار نه تنها زمینه را برای جمع آوری دقیق عواید، تأمین شفافیت و جلوگیری از فساد فراهم می‌کند بلکه تسهیلاتی زیادی را به هموطنان کشور نیز ایجاد خواهد کرد.

**نتیجه گیری**

افزایش تقاضای دسترسی عمومی به اینترنت برای دریافت اطلاعات و خدمات از حکومت، روش‌های کار و زنده‌گی شهروندان را تحت تأثیر قرار داده است. به همین دلیل، یکی از مفاهیمی‌که در طول دهه اخیر به‌گونه بسیار گسترده در جوامع پیشرفته مطرح و در سایر جوامع نیز انعکاس خوبی داشته، مفهوم نظام الکترونیکی است. همه این موارد بیانگر اهمیت استقرار نظام الکترونیکی در هر کشور بوده که خود مستلزم شناخت هرچه بیشتر از مفهوم نظام الکترونیکی، مزایا و خصوصیات مثبتی می‌باشد. درعین حال، پیاده سازی حکومت الکترونیکی مستلزم آگاهی از توانمندی‌ها و ظرفیت‌های کشورهایی است که قصد ایجاد آن را دارند و آن‌گونه نیست که بتوان آن را بدون یک تحلیل درست امکان سنجی، انجام داد.

**منابع و مأخذ:**


۱. آثار و مزایای اقتصادی اجتماعی دولت الکترونیک چیست؟، سنبله، ۱٤۰۰، سایت خبرگذاری تسنیم، https://www.tasnimnews.com/fa/news

۲. مدل‌های پیاده سازی دولت الکترونیکی، مجله ویستا، دسمبر ۲۰۲۲، https://vista.ir/m/a/sn٥١z

۳. تحقق دولت الکترونیک، پورتال سامان، https://www.sis-eg.com/fa/article –

٤. سایت انترنیکی ویکی پدیا، https://fa.wikipedia.org

٥. تاثیر دولت الکترونیکی بر کاهش فساد اقتصادی در گروه کشورهای منتخب اسلامی، مجله علمی مدل سازی اقتصادی، شماره ٢٤، دوره هفتم، ماه حوت، سال ١٣٩٢، نویسنده‌گان: محمدعلی متفکر آزاد ؛ زینب جامه شورانی؛ زینب حیدری داد،سامانه مدیریت نشرات علمی، https://journals.iau.ir/article_٥٥٤٩٢١.html

٦. امکان و ضرورت حکومت داری الکترونیک درافغانستان، سیدآصف حسینی،٢٧ ثور سال ١٣٩٦ هـ ش، روزنامه افغانستان،. https://www.bing.com


# ریښتیا هم انسانیت ستر مذهب دی؟!

**فرید احمد (مبارز)**

یو شمیر کسان دا جمله تکراروي، (انسانیت ستر مذهب دی). پوښتنه دا ده: انسانیت څه ډول یو مذهب دی؟ د چا د خوا رامنځته سوی دی؟ کوم ابعاد لري؟ بل دا چې ددې مفکورې (انسانیت) د پلي کیدو تضمین د چا په غاړه دی؟ په لاندي کرښو کي لنډ بحث پر کوم.

ډیر ځله ځیني مفاهیم په خورا خوږو جملو کي د غرب د خوا اسلامي اُمت ته تزریق کېږي، چې په ښکاره ښه معنا ورکوي، مګر تر شا یې ددې لارې یو زهرجن فکر اُمت ته انتقالیږي، چې یو د هغو څخه یې همدا (Humanity Is Big Religion) یعني انسانیت ستر مذهب دی.

د انسانیت مذهب مفکوره په ۱۶۴۸زیږدیز کال کي د کلیسا د استبداد او ظلم په عکس العمل کي رامنځته سوه. د کلیسا څخه د ډیرو کسانو سرکښي ددې سبب سوه، چې د خلګو په مذهبي اړخ کي خلا رامنځته سي، وروسته ددې خلا د ډکولو لپاره یوه حل لاره د طبیعي دین یعني انساني مذهب په نامه را وټوکید. په داسي حال کي چې دغه انساني مذهب تر اوسه هیچا نه دی پیژندلی او اصلاً په مشخص ډول تعریف سوی هم نه دی، چې څه ډول مذهب دی؟ کوم اصول لري؟ څه ډول عمل به وی؟ او څرنګه د ژوند چاري په تنظیم سي؟

آیا همدا انسانیت دی چې نر د نر یا ښځه د ښځي سره په عام ډول واده کوي؟ که هغه انسانیت دی، چې لوڅ بدن په بازارونو کي ګرځي؟ آیا دا انسانیت دی، چې مور پر کوچنۍ اشتباه تحقیریږي؟ او که دا انسانیت دی، چې تر اولادونو کورنۍ سپی آرزښت ورته لري؟

دغه انسانیت هیڅ واحد تعریف نه لري، چې خلک عمل وربانديي وکړي او نه هم تر شا یو مادي یا معنوي قوه لري، چې د نه پلي کولو په صورت کي مکافات او مجازات ورکړي.

ددې هر څه سره سره بیا هم د انسانیت د مذهب په نامه کوښښ کیږي چې د اسلام او کفر تر منځ عقیدوي اختلاف د منځه یوسي. په هر څه کي باید عقیده شا ته سي او انسانیت ته لومړیتوب ورکړل سي. دوی هڅه کوي چې د خلګو پر خپلو عقایدو باور او ژمنتیا کمه کړي او دغه تګلاره د یو بدیل په توګه وړاندي کړي. په داسي حال کي چې پرته د اسلام څخه اصلق انسانیت شتون نه لري او که څوک واقعي انسانیت پالي باید اسلام ومني، ځکه اسلام دی چې انسانانو ته د مال، ځان او ناموس د خوندیتوب روحیه ورکوي. اسلام دی چې د مشرانو احترام، پر کشرانو شفقت او پر حیوانانو ترحم ته خلک را بولي. اسلام دی چې خلک دې هڅوي، تر څو خپل مال د نورو سره شریک کړي او صدقه وکړي. دا انسانیت چې څه ځان ته خوښوې، باید نورو ته یې هم خوښ کړې او څه چې ځان ته نه خوښوې، باید نورو ته یې هم خوښ نه کړې، چا را ښوولی دی؟ دا انسانیت چې د مور او پلار تر پښو لاندي ستاسو بریا ده، مور ته چا ښوولی دی؟ چې د یتیم پر سر د شفقت لاس تیرول د کوم مذهب اصل دی؟

الله سبحانه و تعالی فرمایي: او وي دی (تل) له تاسي یوه ډله چې بولي (خلک) په طرف د خیر او امر (حکم) کوي (خلکو ته) په معروف (نیکۍ) سره او منع کوي (خلک) له منکر (بدی) څخه او دغه (کسان) هم دوی دي په مراد رسیدلي. (سورت العمران - آیت ۱۰۴)

په دې معنا چې اسلام تر ټولو غوره تګلاره ده او مسلمانان تر ټولو غوره انسانان دي.

نو ویلای سو: د «انسانیت ستر مذهب دی» مفکوره هم د نورو نیمګړو بشري مفکورو په څیر د انسانانو ستونزي نه سي حلولای. یوازي اسلام دی چې انسانیت ته په تر ټولو ستر آرزښت قایل دی او د انساني کرامت ژغورل یې د اسلامي عقیدې او نظام په رڼا کي تضمین کړي دي.



# دولتي ځمکو اوس مالک ومووند!

**حسن خان اتل**

د اسلامی امارت په راتګ سره، په ډېرو ولایتونو کې دولتي ځمکې له غصبه ژغورل شوې او دغه پروسه لا دوام لري. څه برخه یې بزګرانو او شرکتونو ته په اجاره ورکړل شوې او ورکول کیږي چې په ټوله کې دا یو ښه اقدام او خلک ورته خوښ او خوشبینه دي.

دا په داسې حال کې چې په تېرو شلو کلونو کې اتیا سلنه دولتي ځکمې د زور واکو او خپل سرو ډلو له لوري غصب شوې وې. په دې لړکې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د هرات په ولایت کې شاوخوا ۸۵۷۸۹ پنځه اتیا زره اووه سوه اونهه اتیا جریبه دولتي ځمکه تثبیت کړې ده. همدارنګه د هرات په دوو ولسوالیو کې دوه نور نوي جوړ شوي کلي هم تثبیت شوي چې یویې د سپین کلي په نوم د هرات په ګذره ولسوالۍ کې موقعیت لري او بل یې شاه آباد کلی دی چې پښتون زرغون ولسوالۍ کې پروت دی.

بلخوا پروان او کاپیسا ولایتونو کې هم نږدې درې زره جریبه ځمکه تثبیت شوې، د همدې موخې لپاره د کاپیسا ولایت تخنیکی هیئت د دغه ولایت تګاب ولسوالۍ ته سفر وکړ او د یادې ولسوالۍ بېلابېلو کلیو کې یې نږدې دوه زره جریبه ځمکه دولتي تشخیص او له غصبه خلاصه کړه. په غصب شوو ځمکو کې دکورونو جوړولو کار هم د هیئت لخوا درول شوی دی.

سربیره پردې د لوګر ولایت ښاروال هم وایي: غصب شوي دولتي ځمکې له څنډ پرته بېرته راګرځول کیږي. نوموړی زیاتوي: په دغه ولایت کې یې لسګونه جریبه ځمکه بیرته راګرځولي او هغو کسانوته یې خبرداری ورکړی، چې په زوریې دولتي ځمکه غصب کړې ده. دهمدې ولایت په خوشي ولسوالۍ کې هم ۱۵۰۰ (یوزر او پنځه) سوه جریبه دولتي ځمکه تثبیت شوي ده. د خوشي ولسوالۍ د زراعت مسؤل ښاغلی مسافر په دې اړه وایي: دیا دې ولسوالۍ یوازې په خوشي ډاګ او تور راغه کې مو تقریباً ۳۵۰ جریبه دولتي ځمکه تثبیت کړي ده.

نوموړی زیاتوي هغه خلک چې په دولتي ځمکو کې کورونه جوړوي یا د زراعت لپاره ترې استفاده کوي، هغوی موله دې کاره منعه کړي او د امیرالمؤمنین حفظه الله فرمان په اړه مو معلومات ورکړي دي. د مسافر په وینا له دغو خلکو موو غوښتل چې خپل شرعي او قانوني سندونه له مونږ سره شریک کړي، ترڅو د دولتي او شخصي ځمکو تفکیک وشي. د لوګر ولایتي اداري چارواکي وایي چې له غاصبینو یې د ځمکو خلاصون په موخه یو ځانګړی کمېسیون ټاکلی. ځینی غړي یې وایي: هغو کسانوته یې له وړاندې خبرداری ورکړی چې په خپل سر یې دولتی ځمکو کې کورونه او مارکیټونه جوړکړي دي. د پل عالم ښار او خوشي ولسوالۍ اوسیدونکي هم د غصب شویو ځمکو بیرته راګرځول یو ښه ګام بولي او غوښتنه کوي چې دا چاره باید له توپیري چلند پرته په ټولو یوشان عملي شي.

د حاجی شاکر په نوم دیو ټولنیز مخور په وینا، د مرکز پل عالم اوسیدونکی په اوس وخت کې د غصب شویو ځمکو بیرته راګرځول یو ډېر غوره ګام بولي، او وایې چې په دې سره به دښاروالی په عوایدو کې د پام وړزیاتوالی راشي او هم به ښار ورسره پراخه شي. که څه هم له یوې خوا د دولتي ځمکو له غصبه راګرځولو پروسه روانه ده له بلې خو دولت بزګرانو او شرکتونو ته ځینې ځمکې په اجاره هم ورکوي. چې بزګران، د زراعت ماهرین او اقتصاد پوهان د دولت یاده کړنه ستایي او وایې چې دا چاره د زراعت او اقتصاد پرمختګ کې مثبت رول لوبولی شي. په دې سره به د زراعت او اقتصاد سکتورونه لا پیاوړي او خلکوته به د کار زمینه هم برابره شي.

دغه راز د کرنې او اوبولګولو وزارت وایې: چې د افغانستان د اراضی اداري لخوا تر اوسه ۳۰۰۰ درې زره جریبه ځمکه شرکتونو او بزګرانوته په اجاره ورکول شوې. د دوی په وینا دغه ځمکه اوس مهال په ننګرهار او هرات ولایتونو کې، شرکتونو او بزګرانو ته ورکړل شوي ده. د افغانستان د اراضی اداره وایي: چې دا ځمکې د داوطلبی په ترڅ کې مخابراتو، صنعت، کرنې اونورو برخو کې په اجاره ورکول کیږي او ډېر ژر به د کابل میربچه کوټ ولسوالې کې هم څلور زره جریبه ځمکه په اجاره ورکړل شي.

دیادونې وړده چې د نوموړې اداري له خوا مطلوبې ځمکې د یولړ ټاکلو شرایطو له مخې اجاره ورکول کیږي، چې اشخاصوته په انفرادي ډول تر ۲۵۰ جریبو پورې او شرکتونوته (۵۰۰۰) زره جریبو پورې ورکول کیږي. همدارنګه یاده اداره وایي: چې د ځمکې کلنۍ اجاره له (۳۰۰۰) زره افغانیو تر (۴۰) زره افغانیو پورې د ځمکې وړتیا په کتلو سره ټاکل کیږي.

په دې اړه د شیخ زاید پوهنتون د زراعت استاد محمدخان نیازی وایي: هیڅ دولتی ځمکه باید شاړه پاتې نه شي. په دې برخه کې د حکومت پاملرنه ځکه ډېره ضروري ده چې افغانستان له اوبو او طبیعی منابعو ډک هېواد دی خو بیاهم د خوراکي توکوله شدید کمي سره مخ دی، نو دا ډېره د افسوس خبره ده. ځکه له همدې کبله مو ټولې نړۍ ته د مرستې لاسونه اوږده کړي او دپردیو منتونه ګالو. استاد نیازی بیاهم د حکومت دغه ډول اقدامات ستایي او دلا ډېر پر مختګ غوښتنه یې کوي، ترڅو په دې توګه هېواد ژرتر ژره پرځان بسیا او خلک سوکاله شي. د یادونې وړ ده په تیرو (۲۰) شلو کلو کې لومړی واردی چې حکومت دا ډول اقدام کوي، او همدا وجه ده چې زیاتره هېوادوال په دې پوهېدلي چې دولتی ځمکوایله اوس خپل مالک ومونډ.

# د الهي احکامو تطبیق د ټولنې یو اهم ضرورت دی!

**س. سعید**

کله چې الله تعالی حضرت آدم او حوا علیهما السلام ځمکې ته راښکته کړل او په ځمکه کې د انسانانو ژوند پیل شو، په هماغو لومړیو ورځو کې د آدم علیه السلام یو زوی (قابل) راپاڅېد او خپل ورور (هابل) یې وواژه. دا ځکه چې له انسان سره شیطان مل دی، هره شېبه یې ناروا چارو ته هڅوي، لکه چرنګه چې ابلیس؛ آدم علیه السلام ته له سجدې کولو انکار وکړ او د الله تعالی پر ذات یې کلک قسم وکړ، چې زه به ټول انسانان بې لارې کوم، مګر هغه چې ستا لپاره ډېر مخلص دي.

نو شیطانان هره شېبه هڅه کوي، چې انسانان بې لارې او داسې چارو ته یې وهڅوي، چې دنیا او آخرت یې ورخراب کړي.

خو بل طرف ته؛ الله تعالی خپلو مؤمنو بنده ګانو ته حکم کړی، چې د الله تعالی پر ځمکه د هغه قانون پلي کړي. نو اسلامي نظام مکلف دی، چې خلک له بدو چارو منع او ښو کارونو ته یې سوق کړي. بیا که څوک نه منع کېده او لوی جرایم یې تر سره کول، نو د هغوی لپاره شریعت مناسبه سزا ټاکلې.

مثلاً د ناورا قتل په بدل کې د قصاص حکم شوی، د زنا په بدل کې د متأهل لپاره د رجم او د مجرد لپاره د دُرو وهلو حکم، د غلا په بدل کې د لاس پرې کولو حکم او دغه شان په ځینو نورو مواضعو کې هم د دُرو وهلو او نورو تعزیري سزاګانو حکم شوی.

مجرمینو ته سزا ورکول هم د اسلام یو لوی نعمت دی، ځکه چې که قانون او سزا نه وي، نو ټول بشریت له تباهي سره مخ کیږي او په ټولنه کې نا امني، قتل، غلا، زنا او نور جرایم زیاتیږي.

الله تعالی په خپل مبارک کتاب کې فرمایلي ـــ ژباړه: «او ستاسې لپاره په قصاص کې ژوند دی، اې د عقل خاوندانو!، پکار ده چې له دې قانون څخه سرغړاوی ونه کړئ». سورة البقره

په قصاص کې ځکه ژوند دی، چې که قاتلین پر دې پوه شي، چې زه به د دې کس په بدل کې وژل کېږم، نو ایا بیا به قتل وکړي؟! همداراز؛ که غله، زنا کاران، لاره شلونکي، بهتان ویونکي، نشه یان او نور مجرمین او مفسدین په دې پوه شي، چې ما ته به داسې لویه سزا راکول کیږي، نو هیڅکله به د هغه جرم تر سره کولو اراده هم ونه کړي.


"کله چې په بدن کې کوم غړی له کاره ولویږي او داسې مرض پکې پیدا شي، چې نور بدن هم خرابوي، نو ډاکټران هغه غړی ترې قطع کوي، تر څو نور بدن یې خوندي پاتې شي. نو همدغه راز؛ له ټولنې څخه هم باید مفسد افراد قطع او یا اصلاح شي، تر څو نوره ټولنه خوندي پاتې شي.


نو پر همدې اساس؛ د الهي احکامو تطبیق د ټولنې یوه جدي اړتیا ده، تر څو د خلکو ژوند، ناموس، مال او نور ټول حقوق په امن شي.

کله چې یو حکومت د حدودو د تطبیق اعلان وکړي، نو فقط په دې اعلان سره هم جرایم کمیږي، نو که پر دغو کمو خلکو حدود تطبیق شي، ووژل شي، رجم شي، په درو ووهل شي، لاس یې قطع شي یا نورې سزا ګانې ورکړل شي، نو پاتې ټول بشریت به په امن وي. او که چیرې پر دغو مفسدینو حدود پلي نه شي، ټول بشریت به ترې په تکلیف وي او فساد به زیات شي.

ملحدین او سیکولران همېشه د حدودو په تطبیق اعتراض کوي او دا د انسانانو په حق کې ظلم ګڼي (نعوذ بالله). دوی په دغه موضوع کې انساني عواطف رامخې ته کوي او وایي: ایا دا ظلم نه دی چې د یو نفر په بدل کې بل وژنئ، لاس یې قطع کوئ، رجم کوئ یې، یا بله سزا ورکوئ! خو دوی دې ته فکر نه کوي، چې که دغو کم شمېر خلکو ته سزا ور نه کړل شي، دوی ټول بشریت ته تکلیف رسوي او ټولنه کې فساد خپروي. که پر دغه یوه قاتل زړه سوی وشي، هغه په لسګونو نور خلک قتلوي، که پر یو غله زړه سوی وشي، هغه د لسګونو خلکو مال لوټي، که پر یو زنا کار زړه سوی وشي، هغه د نورو خلکو ناموس ته بې عزتي اړوي، که پر یو لاره شلونکي زړه سوی وشي، هغه ټولو خلکو ته ضرر رسوي. نعوذ بالله! دا څومره لویه بې شرمي او جهالت دی، چې نا وسه مخلوق د خپل خالق په قانون کې نیمګړتیا لټوي!! مګر که دوی رښتیا عواطف لري، ولې د ماشومانو، سپین ږیرو او ښځو پر وژلو او بمبارولو چوپه خوله دي؟!

په هر صورت؛ دغه الهي احکام پر ټول بشریت د الله تعالی یو لوی رحمت دی او هدف یې د ټولنې اصلاح ده. تر څو ټول خلک د مجرمینو او مفسدینو له شر څخه خوندي وي.

کله چې په بدن کې کوم غړی له کاره ولویږي او داسې مرض پکې پیدا شي، چې نور بدن هم خرابوي، نو ډاکټران هغه غړی ترې قطع کوي، تر څو نور بدن یې خوندي پاتې شي. نو همدغه راز؛ له ټولنې څخه هم باید مفسد افراد قطع او یا اصلاح شي، تر څو نوره ټولنه خوندي پاتې شي. لکه څرنګه چې د اسلام اساسي هدف د شر او فساد له منځه وړل او د خلکو اصلاح کول دي، نو د شرعي حدودو تطبیق هم د همدې هدف یو جزء دی. ومن الله التوفیق

# د اولاد روزنې ۱۲۹ مشورې

**د. أحمد بن عثمان المزيد+د. عادل بن علي الشدي / ژباړه: عبدالعزيز ابوبکر / دریمه برخه**

۲۸:- که اولاد دې په کوم ځای کې زړورتیا وښودله، نو ستاینه یې وکړه، جائزه ور کړه او زړورتیا ورته وښیه چې یو ښه او ضروري کار کول دي.

۲۹:- سختې مه ورسره کوه، خدای مکړه په وېره، دروغو او بې زړه توب یې اخته کړې.

۳۰:- له عاجزۍ، نرمۍ سره او له کبره ځان ساتلو مینه ور پیدا کړه.

۳۱: په دې یې وپوهوه چې خلك په تقوا او نېکو کارونو یو پر بل غوره او ښه کېدای شي، په پلرګنۍ، وړتیا او مال نشي غوره کېدلای.

۳۲:- اولاد پوه کړه چې د ظلم انجام ډېر کرکجن دی، بېلارۍ بېرته خپله پر سړي را ګرځي او خیانت سړی د بربادۍ لور ته بیایي.

۳۳:- اولاد ته د هغو شیانو تر منځ توپیر وښیه چې هغه یې یو له بله نه سره پېژني؛ لکه: د مېړانې او بېباکۍ، د حیادارۍ او شرم، عاجزۍ او سپکتیا، پوهې او دوکې تر منځ توپیرونه.

۳۴:- اولاد پر سخا عادت کړه چې په خپل کور کې سخي و اوسي او خپل خیر له نورو ونه سپموي.

۳۵:- هیڅ وخت او خاصتاً له اولاد سره وعده خلافي مه کوه، په دې سره د هغه په طبیعت کې د تعهد او ژمنتیا ښه والی نقش کېږي.

**چلند او ادبونه:**

۳۶:- پر زوی سلام واچوه.

۳۷:- د اولادونو تر مخ په ځان لوڅولو کې بې پروایي مه کوه.

۳۸:- له ګاونډیانو سره ښه چلند کوه.

۳۹:- اولاد ته د ګاونډي حقونه ور زده کړه او د هغه د ځورولو خطر ته یې متوجې کړه.

۴۰:- د مور او پلار فرمانبرداره اوسه، له خپلوانو سره خپلوي پاله او خپل اولادونه پکې درسره کړه.

۴۱:- اولادونه په دې پوه کړه چې خلك له پاکو او هغو ماشومانو سره مینه کوي چې نور نه ځوروي.

۴۲:- اولاد ته په لیك کې اداب، نصیحتونه او لارښوونې ولیکه.

۴۳:- اولادونو ته دا ور په ګوته کړه چې ځینې چلند پست او سپك وي او علتونه یې ورته وښیه.

۴۴:- له خپلو اولادونو سره کېنه او هر وار له نبوي ادابو یو یې ووایه، بیا پوښتنه ترې وکړه چې دوی څه ګټه ترې واخیسته او کولای شي چې اولاد یې وایي او ته ورته غوږ یې.

۴۵:- اولاد ته په پټه نصیحت کوه، د نورو په مخ کې یې مه ترټه.

۴۶:- تر خپله وسه یې ډېر مه ملامتوه.

۴۷:- د ورتلو پر وخت له اولاد څخه اجازه وغواړه، دا ډېره ښه طریقه ده چې هغه د اجازې غوښتل زده کړي.

۴۸:- له اولاد څخه دا تمه مه لره چې ته څه غواړې په هغه دې په اول وار لا هغه وپوهېږي﴿ژ: خپل کوروالو ته د لمانځه ووایه او پرې صبر وکړه﴾.

۴۹:- له خوراك مخکې په لوړ غږ (چې اولاد یې اوري) د بسم الله شریفې او همداسې وروسته ترې الحمدلله ویل مه هېروه.

۵۰:- د اولاد په ځینې غلطیو ځان ناګاره مه اچوه او خپله سینه د اولاد د تېروتنو د ساتلو ذخیره مه ګرځوه.

۵۱:- که در څخه تېروتنه وشوه (ویې منه او) اولاد ته عذر پېښ کړه.

۵۲:- اولاد و هڅوه چې امتیازي شخص وي او ورته ووایه چې ګوره ! ته یو امتیازي بچی یې او ځان امتیازي جوړولای شې.

۵۳:- په اولاد کې یو نه یو (ښه) خاصیت پیدا کړه.

# یتیم؛ د قرآن په رڼا کې!

عبیدالله رقیب



یتیم په شریعت کې هغه انسان ته ویل کیږي چې بالغ نه وي او پلار یې مړ شوی وي، رسول الله – صلی الله علیه وسلم – فرمایلي دي «لا یتم بعد احتلام» رواه أبو داود.

**له یتیم سره احسان**

له یتیم سره د احسان په تړاو الله تعالی فرمایي: ژباړه: معنی دا چې د الله عبادت کوئ، له الله سره هیڅ شئ مه شریکوئ، له مور او پلار سره إحسان کوئ، له قریبانو، یتیمانو او ... سره إحسان کوئ. [سُورَةُ النِّسَاءِ: ٣٦]

په یتیم پاملرنه او د هغه ساتنه یوائې په اسلام کې نه، بلکې په ټولو اسماني ادیانو کې لازم امر ؤ، لکه چې الله تعالی فرمایي: ژباړه: د قران کریم دا ایت په صراحت سره ثابتوي چې له بني اسرائیلو نه د الله د عبادت ترڅنګ له یتیم سره د إحسان کولو وعده هم اخیسته شوې وه، خو هغوی ماته کړې ده. [سورة البقرة ٨٣]

د موسی او خضر (علیهما السلام) د سفر واقعه یې نور وضاحت هم کوي: ژباړه:مفهوم دا چې دوی ته په هغه کلي کې یو دیوال په مخه ورغیې چې نړېدو ته نژدې ؤ، دوی هغه دیوال ورغول او په دې کار یې له خپل مجبوریت سره سره هیڅ مزدوري وا نه خیسته، [سورة الکهف ٧٧]

قران کریم د دې ښیګڼي راز داسي بیانوي: ژباړه: مفهوم دا چې دیوال د دوو یتیمانو ؤ چې د دوی خزانه ترې لاندي وه، خضر علیه السلام دیوال ورغول ترڅو یتیمان لوی شي او خزانه خوندي ترلاسه کړي. [سورة الکهف ٨٢]

**د یتیم ټولنیز حقوق**

الله رب العزت داسي فرمایي: ژباړه: په دې آیتونو کې الله تعالی خپل رسول ته وریه یادوي چې ته یتیم وې بیا الله درته پناګاه او هستوګنځی برابر کړ، ته د شریعت له احکامو ناخبر وې بیا الله درته لار ښوونه وکړه، ته بې وزلی او مسکین وې بیا الله غني کړې!

[سورة الضحی ٦ – ٨]

له دې آیتونو ثابتیږي چې یتیم مسکن، تربیې او مال ته اړتیا لري، فلهذا هرفرد، ټولنو او حکومتونو ته په کار ده چې د یتیم یادي اړتیاوې پوره کړي، او خپل خپل مسؤلیتونه ترسره کړي.

همدارنګه قران کریم د یتیم رواني حالت هم په نظر کې نیولی ده، خلک یې د یتیم له رټلو او په یتیم له فشار راوړلو منع کړي دي، لکه چې فرمایي: ژباړه: معنی دا چې په یتیم زور زیاتی مه کوئ! [سورة الضحی ٩]

الله تعالی د هغو خلکو بدي بیانوي چې یتیم ته په سپکه ګوري او فرمایي چې یتیم ته په سپکه کتل د هغو خلکو کار دی چې په محشر باندي ایمان نه لري ژباړه: ایا تا هغه څوک ولیدل چې د آخرت جزا او سزا ته دروغ وایي؟ دا هغه څوک دي چې یتیم په سپکاوي سره شړي. [سورة الماعون ١ – ٢]

همدارنګه الله تعالی فرمایي: ژباړه: په دې ایتونو کې الله تعالی د انسان حکایت کوي، مشکل یې بیانوي او بیا یې علت راښیي: معنی دا چې کله انسان په امتحان کې راشي او روزي وربانديي تنګه شي نو انسان وایي چې: الله ذلیل کړم. اما خبره داسي نه ده، واقعي سبب دا دی چې تاسي د یتیم اکرام نه کوئ ځکه خو په دې مشکلاتو کې را ګیر شئ.

[سورة الفجر ١٦ – ١٧]

د الله تعالی له دې ارشاد نه فهمیږي چې د یتیم اکرام لازم دی، که یې ټولنیز حقوق دي که یې هستوګنه ده که یې نفقه ده او که یې تربیه ده، هرڅه ته یې جدي پاملرنه په کار ده.

د یتیم اکرام یوائې نفقه ورکول نه دی بلکې د یتیم تعلیم، تربیه او د یتیم تهذیب همدارنګه د یتیم په سر د شفقت لاس تیرول، په یتیم د ترحم غږ کول، د یتیم زړه په لاس کې نیول او داسي ډیر څه د یتیم په اکرام کې راځي.

له یتیم سره باید د خپل زوی په څېر چلن وشي، یتیم باید مایوسی ته پاتې نه شي.

**د یتیم مالي حقوق**

د دې لپاره چې یتیم له مالي اړخه بسیا وي، له قران کریم نه یې څو سرچینې بیانوو:

الله تعالی فرمایي: ژباړه: په دې ارشاد کې الله تعالی عام خلک هڅوي، چې له یتیم سره مالي مرسته وکړي، معنی دا چې نیکې یوائې دا نه ده چې د لمانځه په وخت کې ختیځ یا لویدیځ طرف ته مخونه واړوئ، بلکې نېکي دا ده چې انسان په الله ایمان ولري، د قیامت په ورځ، په ملائکانو، اسماني کتابونو او نبیانو ایمان ولري او خپل ګران مال په قریبانو، یتیمانو او مسکینانو مصرف کړي.

[سورة البقرة ١٧٧]

همدارنګه الله تعالی خپل رسول ته فرمایي، چې ته هم د یتیم سره مرستي ته خلک هڅوه: ژباړه: مفهوم دا چې خلک له تانه پوښتنه کوي چې موږ څه شئ مصرف کړو؟

ته ورته ووایه: کوم مال چې تاسي لګوئ مور او پلار، قریبانو، یتیمانو، مسکینانو او مسافرو ته یې ورکړئ او تاسي چې هره ښېګنه کوئ الله پرې خبریږي. [سورة البقرة ٢١٥]

الله تعالی غازیانو ته هم ارشاد فرمایي چې د غنیمت په مال کې د یتیم ونډه ورکړئ: ژباړه: معنی دا چې، تاسي دي خبر یاست، د غنیمت کوم مالونه چې تاسي نیولي دي د هغه مال څخه پینځمه برخه د الله او د الله د رسول او د خپلوخپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او مسافرو ده.

[سورة الأنفال ٤١]

الله تعالی حکومتونوته هم امر کوي چې د فيئ په مال کې د یتیمانو برخه وکړي، فيئ هغه مال ته ویل کیږي چې له جنګ پرته حکومت ترلاسه کړی وي؛ژباړه: په دې فرمان کې الله تعالی فرمایي: کوم مالونه چې الله خپل رسول ته د اطرافو له خلکو ورکړیدي هغه مالونه د الله او د الله د رسول او د قریبانو یې دي، همدارنګه هغه مالونه د یتیمانو، مسکینانو او مسافرو دي، ستاسو د پیسه دارو او زورواکو ترمنځ دي لاس په لاس نه شي. [سورة الحشر ٧]

د قران کریم له بیان شویو ایتونو نه دا ثابته شوه چې یتیم ته مال ورکول إلٰهي لارښوونه ده، یتیم ته نفقه برابرول غټه ښېګنه ده، د غنیمت په مال کې د یتیم ونډه لازمه ده او د فيئ له ماله یتیم ته خپله برخه سپارل قرآني امر ده.

**د یتیم د مال ساتنه**

که یتیم غني او مالدار وي، نو د هغه د مال د ساتنې لپاره هم قران کریم روښانه تګلاره وړاندي کړې ده، لکه چې فرمایي:ژباړه: معنی دا چې د یتیمانو مالونه بیا هغوی ته وسپارئ ښه مال یې په بد مال مه بدلوئ او د یتیمانو مالونه له خپلو مالونو سره په ګډولو مه خورئ دا ډیره لویه ګنا ده. [سورة النساء ٢]

همدارنګه الله تعالی فرمایي: ژباړه: کوم خلک چې په ظلم سره د یتیم مالونه خوري په حقیقت کې هغوی خپل نسونه له اوره ډکوي او هغوی به خامخا د دوزخ تاوجن اور ته داخل شي. [سورة النساء ١٠]

د دې آیتونو نه مطلب دا دی چې د یتیم مال ته تاوان مه رسوئ، مطلب دا نه دی چې یتیم او د هغه مال سره پرېږدئ، هرڅه چې یې وربانديي کول هغه دي کوي، ځکه چې دا کار د یتیم مال ته تاوان رسوي او الله تعالی داسي ارشاد فرمایي: ژباړه: معنی دا چې له تا نه خلک پوښتنه کوي چې له یتیمانو او د هغوی له مالونو سره څه ډول چلند وکړي؟ ته ورته ووایه: په کوم ډول چلند کې چې د یتیمانو خیر او ګټه وي هغسي بهتر دی، که تاسي خپل او د هغوی مالونه سره ګډ کړئ او په دې کار کې د یتیم خیر وي نو هغوی ستاسو وروڼه دي درسره ګډ دي وي. [سورة البقرة ٢٢٠]

مطلب دا چې د یتیم مال به نه بې سره مصرفول کیږي او نه به یتیم ته د هلاکت لپاره ورکول کیږي، بلکې حفاظت یې لازم دی.

قدرمنو کتونکو!

د کائناتو خالق، الله رب العزت، د فرمان له مخې مو ولوستل چې د ټولنې فرد فرد او حکومتونه د یتیم په اکرام او اصلاح مکلف دي، د یتیم خیرخواهي او له یتیم سره ښېګنه إلٰهي ارشاد دی، په یتیم د مینې لاس تیرول د إلٰهي دین غوښتنه ده.

یتیم دي داسي احساس ته پاتې نه شي چې زړه یې مات او حوصله یې ورانه شي، یتیم باید داسي ټولنه ووینې چې دی پکې د ارام او خوشحالی سا واخلي، که داسي ونه شي او د یتیم زړه د مایوسی له احساسه خوندي نه شي نو ټولنې ته به په داسي حال کې راووزي چې په رواني مرض به اخته وي، کله چې د ټولنې یو قشر مریض وي په ټولنه منفي تاثیر کوي او ټولنه له بدبختی سره مخ کیږي.

له یتیم سره که تریخ چلند وشي او حقوق یې ترپښو لاندي شي نو دا ظلم یې په زړه کې یاد پاته کیږي او بیا یې چې وس ورسیږي د انتقام لپاره له هرې لاري کار اخلي، چې دا چاره د ټولنې لپاره ګډوډي را منځته کوي او بدي پایلې لري.

له یتیم سره زموږ د اسلافو رویه ډیره په زړه پوري او له خواخوږی ډکه وه، بېلګې یې نشو بیانولایدی، لیکنه اوږدیږي.

زموږ اوسنی ټولنې هم، لله الحمد، چې ترډیره د یتیم په اړه له مینې او ترحم نه ډکې دي، زموږ د ټولنې هرفرد له یتیم سره د خپل وس مطابق ښه چلند کوي، د لازیات ترحم او هراړخیزې مرستې توفیق ورته غواړو.

زموږ له تجارانو او شتمنو وروڼو نه هیله کیږي چې د یتیم لپاره ځانګړې مؤسسې جوړې کړي او د یتیم هراړخیز کفالت پکې په غاړه واخلي ترڅو یې الله رب العزت په جنت کې له خپل پیغمبر سره یوځای کړي لکه چې رسول الله فرمایي: «أنا وكافل اليتيم في الجنة كهاتين» رواه البخاري. یعني: رسول الله او د یتیم سرپرست به په جنت کې داسي سره یوځای وي لکه دا دوه ګوتې.

زموږ د اسلامي امارت ونه که د شهید په وینو خړوبه ده خو بیا، لله الحمد، چې له سایې او میوې یې یتیم پوره برخمن دی، د دې بڼ مالیار د یتیمانو حال احوال اخلي، وخت په وخت ورسره مرستې کوي، د یتیمانو د روزنې لپاره ځانګړې خاښونه لري، ډیر تشکر کوو او له الله رب العزت نه ورته لازیات توفیق غواړو.

وصلی الله تعالی وسلم علی خیر خلقه محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.

# د منافقینو څلور علامې او اوسني خلک!

مولوي نورالحق مظهري

ژباړه: کله چې ته دوی ووینې نو تنې یې خوند درکړي او که خبري وکړي نو ته یې خبرو ته غوږ نیسې، دوی داسي دي لکه درول سوي وچ لرګي، دوی هر رږغ د ځان په خلاف ګڼي، دوی دښمنان دي احتیاط ورسره وکړه الله دي دوی هلاک کړي څنګه د حق څخه ګرځول سوي دي؟. [المنافقون٤]

پدې آیت کي الله تعالی د منافقینو درې صفتونه ذکر کوي:

١ - دوی په تنو او ظاهري منظر باندي داسي برابر، ښائسته او تازه دي چي لیدل یې انسان ته خوند ورکوي. البته ددوی دا هغه نوراني ښائست ندی چي په لیدلو یې د سړي الله تعالی په یاد سي بلکي دوی په ځانونو لاسونه وهلي وي او خپل فیشن یې ښه سره برابر کړی وي تر څو لیدونکي ته ښه او ښائسته معلوم سي.

٢ - دوی ډېر غوړ ژبي، د فصاحت خاوندان دي او د پیغمبر مخ ته په چاپلوسی باندي ډېري خوږې خبري کوي ځکه نو ددوی د خبرو نوعیت ته په کتلو سره د انساني فطرت په تقاضا پیغمبر ته ددوی خبرو خوند ورکوی. البته مخکي تر دې چي دوی رسوا سي.

٣ - دوی د عقل او هوښیاری څخه خالي دي لکه هغه تکیه سوي لرګي چي په ظاهري بڼه ښائسته دي خو په اصل کي نه روح لري او نه عقل، دوی هم همداسي دي ځکه که دوی عقل درلودلای داسي د منافقت پالیسي یې نه غوره کول.

٤ - دوی د الله، رسول او مؤمنانو لخوا هر رږغ د ځان پر خلاف بولي او چي کومه خبره د عذاب، رسوایی، تنبیه او ویري واوري داسي فکر کوي چي موږ یادوي ځکه دوی خو په زړه خیرن او عمل چټل وه چي پیغمبر به هره خبره کول دوی داسي فکر کوی چي موږ ته وایي.

زموږ په زمانه کي باید مسلمانان کوښښ وکړي چي یوائې پر فیشن او موډ کار ونکړي بلکي خپل باطن او ظاهر دواړه د ګناهونو او سرغړونو څخه پاک کړي، همدا راز د چاپلوسی، غوړمالی، چلبازی او دوه مخیز سیاست څخه ځان وساتي تر څو د منافقینو دویمه نښه پکښې موجوده نسي.

مسلمانان باید ځانونه د عقل او پوهي په ګاڼه ښایسته کړي تر څو د منافقت ساده اسکلیت څخه نجات پیدا کړي او په هوښیار روح او کامل عقل باندي ژوندي وسي.

او مسلمان باید د بل مسلمان د هري خبري مصداق ځان و نه بولي او هره خبره ځان ته راجع نکړي.

په اسلامي ټولنه کي مسلمان دعوتګران او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مجاهدین خلکو ته د دین رسولو په موخه د ګڼو طریقو څخه استفاده کوي؛ د میډیا، منبر او لیکلو له لاري خلکو ته ښه او بد معرفي کوي نو که هغوی پر کوم منکر باندي نیوکه کوي مسلمان دي د هغوی د خبري مصداق ځان نه جوړوي خو که بالفرض په کوم انسان کي یاد سوی منکر وي هغه دي ځان اصلاح کړي او د دعوتګر مسلمان څخه دي مننه وکړي چي دده یې ورته فکر کړ.

له بده مرغه باید ووایو چي په اسلامي ټولنه کي د ګوتو په شمیر ځیني داسي خلک سته چي د ځینو دعوتګرانو، علماوو او لیکوالانو خبري ځانونو ته راجع کوي او داسي فکر کوي لکه دوی چي موږ یادوي ځکه نو د هغوی څخه خوا بدوي، تبلیغات پسې کوي او خپل دښمنان یې بولي پداسي حال کي چي دا عیناً د پخوانیو منافقینو عادت وو. الله تعالی دي موږ ټولو ته هدایت وکړي او د منافقینو د ټولو نښو او علامو څخه دي مو وساتي.

د پورته آیت په آخره کي الله تعالی مسلمانانو ته خبر داری ورکوي چي د منافقینو سره ډېر پام کوئ ځکه دوی ستاسو دښمنان دي او دا معلومه خبره ده چي د دښمن په وړاندي باید مسلمان تل د آمادګی په حالت کي وي.

زموږ په زمانه کي هم باید ټول خلک او اسلامي نظام دداسي انسانانو په وړاندي ویښ اوسی تر څو خدای مکړه د مسلمانانو په مینځ کي د فساد کرلو په ذریعه اسلامي نظام او مسلمانان د خطرناکو ننګونو سره مخامخ نکړي.

# د علي رضي الله عنه ارزښتناک نصیحت!

نورالحق

ژباړه: حکیم بن سعد وایي: ما د علي رضي الله عنه څخه واورېدل چي ویل یې: د ځانونو څخه تلواریان، د اسرارو خپروونکي او کرونکي مه جوړوئ ځکه ستاسو شا ته سختي بلاګاني او ګډوډ پیچلي کارونه دي.

علماو لیکلي دي: د حضرت علي رضي الله عنه هدف دا دی چي کارونه په تلوار مکوئ بلکي په کارونو کي دقت او غور وکړئ، خپل مینځي اسرار او رازونه مه افشاء کوئ او په خپل مینځ کي د فتنو د راپورته کولو څخه ډډه وکړئ ځکه پدې کارونو کي ستا لپاره ډېر تاوانونه دي او یا یې هدف دا دی چي د مسلمان د عیب په لټولو او پیدا کولو کي تلوار مکوئ او چي کله د مسلمان عیب درته معلوم سي بیا یې نو په خپلو کي مه خپروئ ځکه ددې کار لپاره ډېر تاوانونه او بلاګاني دي.

# غزل

**انس حقاني**

شور د خاموشۍ مې د جهان له سترګو خوب وړی
حسن او ځوانۍ مې د جانان له سترګو خوب وړی
زما په بېلتانه کې يې سرې اوښکې توی شوي دي
خرې ملنګۍ مې د اسمان له سترګو خوب وړی
کاشکي په دي پوه شې د کنعان اولاد چې امن يم
دري پوړه کښتۍ مې د طوفان له سترګو خوب وړی
لټ په لټ د ژوند په کټ کې اوړي په يو بل لوري
راز د عاشقۍ مې د ارمان له سترګو خوب وړی
لويو توپانونو، زلزلو له خوبه ويښ نکړم
ستا يوې سلګۍ مې، څه اسان له سترګو خوب وړی
زړه د انس موم شو، نن يې يار ته داسې وويل
ميني ليونۍ مې، په ايمان له سترګو خوب وړی

# غزل

**حکیم سنایی غزنوی (رح)**

غریب و عاشقم بر من نظر کن
به نزد عاشقان یک شب گذر کن
ببین آن روی زرد و چشم گریان
ز بد عهدی دل خود را خبر کن
ترا رخصت که داد ای مهر پرور
که جان عاشقان زیر و زبر کن
نه بس کاریست کشتن عاشقان را
برو فرمان بر و کار دگر کن
سنایی رفت و با خود برد هجران
تو نامش عاشق خسته جگر کن
ولیکن چون سحرگاهان بنالد
ز آه او سحرگاهان حذر کن

# د عشق سفر

**راشد کامران**

سفر د عشق پيل شو، په کفن کې له ميقاته
ببر سر مينان دي له حرم تر عرفاته!
زما د فکر تاله! يو دې وړم کومې دنيا ته
را ياد دې لسم کال کړ، ای شيرينه التفاته
له هرې هسکې، ټيټې د تکبير، تسبيح غبرونه
قرآن په زمزمو دی له انفاله تر براته
بيا عرش، د رب د ستړيو ميلمنو په ننداره دی
سلګۍ دې يو تر بلې وراندې کيږي، ځي سما ته
حج څه دی؟ د خليل او د ذبيح د وفا نوم دی
ملت ته تر قيامته ادا ګاڼې دي ور پاته
حج څه دی؟ د خليل بابا اعلان ته اجابت دی
پښې هم په هغه لور ځي چې نصيب وي کومې خوا ته
اولاد د اسماعيل يې دی د مينې پوروړی
پيغام د هاجرې وايه، صفا ته او مروا ته
خلاصه د کائناتو او زبده د مخلوقاتو
کعبې د فضيلت تاج ور په سر کړلو صحرا ته
هر دم په عقيدت او هر قدم په احترام
درودونه، سلامونه د حسن، حسين بابا ته
راشده! د ديدن تنده دې ماته په زمزم شه
رنځور ارمان دي ورسيږه کلي د شفا ته

# د حضرت محمد صلي الله عليه وسلم سپېڅلی ژوند

# د ضرار مسجد

لیکنه: محمود شلبي / ژباړه: محمد علي عظمت / ۷۴ مه برخه

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپله مخه روان شو، څو (ذي اوان) چې يو ښار دی او د ده او د مدينې ترمنځ يو ساعت واټن دی، هلته ورسېده، ښکته او دمه شو.

کله چې د تبوک غزا ته په تياري بوخت و، د ضرار جومات کسان ورته راغلل، نو ويې ويل: يا رسول الله! بېشکه مونږ يو مسجد ودان کړی، دا مو د ناروغانو، د اړتيا خاوندانو، د باراني شپې او د ژمي د شپې په موخه تعمير کړی او زمونږ خوښېږي چې ته زمونږ لوري ته راشې او په هغه کې لمونځ اداء کړې.

نو هغه ورته وويل: «زه د سفر د تياري لپاره خورا بوخت يم... او که بېرته د الله جل جلاله په (اذن او خوښه) راستانه شوو، بيا به ستاسو خوا ته درشم او لمونځ به پکې اداء کړو».

کله چې هغه په (ذي اوان) کې ښکته او د بېره شو، د مسجد (ضرار) خبر ورته را ورسېده، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم مالک بن دَخْشم او مَعْن بن عدي راوبلل، هغوته يې وويل: تاسو دواړه د دې ظالمو وکړيو مسجد ته ورشئ، هغه ونړوئ او وسوځوئ».

نو هغه دواړه په بېړه روان شول، نو هغه يې ويجاړ کړ او ويې سوځاوه.

او د قرآن کريمه يوه برخه هم په دې اړه نازله شوه: ژباړه: او هغه کسان دي، چې مسجد يې د دې لپاره جوړکړ، چې (مسلمانانو) ته ضرر ورسوي، د کفر خبرې پکې وکړي، مومنانو کې بېلتون راولي او د هغه چا لپاره يې ځارنځی جوړ کړی، چې پخوا يې له الله جل جلاله او د هغه له رسول سره جنګ و. او هرومرو به دا قَسمونه خوري، چې له ښېګنې پرته مو بله اراده نه وه، خو الله جل جلاله د دې خبرې ګواهي ورکوي، چې هغوی قطعي دروغژن دي. (اې پيغمبره) ته په دې (نام نهاد مسجد) کې هيڅکله (د لمانځه لپاره) مه درېږه. البته هغه جومات، چې بنسټ يې له لومړۍ ورځې په تقوی کېښودل شوی، هغه د دې خبرې وړ دی، چې ته پکې ودرېږې. په هغه کې داسې کسان شته، غواړي چې پاک و اوسي. او الله جل جلاله همدغه پاکي غوره کوونکي خوښوي. ښه! آيا هغه غوره دي چې د خپلې ودانۍ بنسټ يې له الله جل جلاله نه په وېره او د هغه په رضا غوښتنه ايښی وي، که هغه څوک چې د خپلې ودانۍ اساس يې د نړېدونکي پاڼ په غاړه ايښی وي، بيا له هغې سره يې د (جهنم) په اور کې وغورځيږي؟ او الله جل جلاله داسې ظالمان تر هدايت پورې نه رسوي. کومه ودانۍ چې دوی جوړه کړې وه، تر هغه به د دوی په زړونو کې شک پيداکوي، تر څو چې د دوی زړونه ټوټه ټوټه شي.

او الله جل جلاله د بشپړ عليم څښتن هم دی، د پوره حکمت خاوند هم دی. د توبه سورت (۱۰۷ ــ ۱۱۰) آيتونه.

**هغه درې کسان چې له غزا نه پاتې شوي وو**

او رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې منورې ته راستون شو او له هغه څخه د منافقانو يوې ډلې تخلف او سرغړاوی کړی و.

او له شک او نفاقه پرته هغه درې کسان: کعب بن مالک، مراره بن ربيع او هلال بن اميه هم پاتې شوي وو.

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو اصحابو کرامو رضى الله عنهم ته وويل: «له تاسو څخه دې يو تن هم له دې دريو کسانو سره خبرې نه کوي».

او له منافقانو څخه چې چا له هغه څخه سرغړونه کړې وه، ده ته راغلل او قَسمونه يې ورته خوړل، عذرونه يې وړاندې کول، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم له هغوی تېرېده، درګزر يې ورته کولو.

او مسلمانان له دې دريو کسانو سره له خبرو کولو څخه يوې خوا ته شول.

کعب بن مالک رضى الله عنه خپله کيسه کوي!

له کعب بن مالک رضى الله عنه نه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کومې غزاګانې کړې، زه په ټولو کې ورسره وم، پرته له بدره، خو هغه داسې غزا وه، چې څوک ترې پاتې شوي وو، الله جل جلاله او د هغه رسول صلى الله عليه وسلم هغوی ملامت نه کړل.

او زما له معلوماتو څخه دي، کله چې زه د تبوک غزا کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پاتې شوم، زه له دې مخکې کله هم دومره پياوړی او ځواکمن نه وم، څومره چې د دې غزا پر مهال وم، له کومې چې زه پاتې شوم...

او رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې غزا لپاره په داسې وخت کې تياری پيل او روان شو، چې مېوې پخې شوې او سيوري ښه خوند کاوه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم غزا ته چمتو شو او له ده سره مسلمانان هم تيار شول او ما هم له هغوی سره سهارته د تللو بندوبست لرلو، خو بېرته به راغلم او اړتيا (کار) به مې ترسره نه کړ، نو له ځان سره به مې وويل: کله چې زه وغواړم پرې برلاسی يم.

نو دا کار پر ما اوږد شو، تر دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم او مسلمانان روان شول او ما لا هيڅ هم نه و تيار کړي، نو ومې ويل: ورځ دوه ورځې وروسته به ځان چمتو کړم او له هغوی سره به يوځای شم.

بيا د هغوی له تللو وروسته مې د تللو تياری پيل کړ...

ولې بېرته راغلم او هيڅ مې هم و نه کړل.

وروسته مې د تللو هوډ وکړ، د تياري په نيت ووتلم، خو بېرته راستون شوم او هيڅ مې هم و نه کړل، نو دا کار په ما دومره اوږد شو، چې هغوی ګړندي غزا ته لاړل.

نو پخه اراده مې وکړه، چې روان شم او هغوی رالاندې کړم او کاش! داسې مې کړي وای، ولې ما دا شان و نه کړل او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له تګ څخه وروسته به چې له کوره ووتلم، ډېر به خپه کېدم، چې هغه سړي به مې ليدل چې په نفاق به تورن و او يا به هغه شخص و، چې الله جل جلاله به معذور کړی و.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم زما هيڅ يادونه و نه کړه، څو تبوک ته ورسېده، بيا د مسلمانانو په منځ کې په تبوک کې کېناست و او ويې ويل: «کعب بن مالک رضى الله عنه څه وکړه؟»

نو يوه تن وويل: هغه يخو اوبو ايسار کړی دی.

معاذ بن جبل رضى الله عنه وويل: ډېره بده خبره دې وکړه! په الله جل جلاله قسم، يا رسول الله! مونږ له هغه څخه له خيره پرته بل څه نه دي ليدلي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم چوپ شو.

کله چې ما ته خبر را ورسېده، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له تبوکه را روان دی، زما د زړه ځړيکې پيل شوې، نو ما شروع وکړه دروغ يادوم او وايم، د رسول الله صلى الله عليه وسلم له غوسې به سبا په څه شي خلاص شم؟ او په دې اړه له پوهو خپلو خپلوانو څخه مرسته غواړم، بيا هر کله چې دا وويل شول: رسول الله صلى الله عليه وسلم ژر راتلونکی دی، له ما نه هم باطل فکر باطلې خبرې لاړې او په دې پوه شوم، چې د هغه له غوسې څخه له رښتيا پرته په بل څه نه خلاصېږم، نو دا مې غوټه کړه چې رښتيا به وايم.

او سهار رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې منورې ته را ورسېده او هغه به کله چې له سفره راستون شو، لومړی به نبوي مسجد ته ننوت، دوه رکعته لمونځ به يې په کې کولو، بيا به له خلکو سره کېناسته.

بيا هر کله چې هغه له دې کاره وزګار شو، وروسته پاتې شوي سرغړونکي ورته راتلل، نو قسمونه به يې خوړل او عذرونه به يې وړاندې کول. او هغوی څه د پاسه اتيا کسه وو. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوی ښکاره خبرې او ايمان قبلولو او ښښنه به يې ورته کوله او د هغوی پټې خبرې يې الله جل جلاله ته سپارلې.



# ځوانه! د امن کور دې ليدلی!؟

**تميم تکل**

هرکله چې دې زړه تنګ شو او د تنهايۍ احساس دې وکړ، مسجد ته لاړ شه.

هرکله چې خپه شوې او د انسانانو له لاسه غمجن شوې، د الله تعالی د کور پر لور قدم واخله.

هو! دلته پناه يوسه!

مسجد ته لاړ شه، دوه رکعته لمونځ وکړه او څو د قرآن مبارک آيتونه هم ورسره تلاوت کړه.

اې!

شک و نه کړې چې ډېر ژر به دې زړه آرام او مطمئن شي!

په مسجد کې د ملائکو حضور او د الله تعالی د رحمت نزول، ستا د مات – مات زړګي د اطمينان دوه عمده اسباب دي.

تجربه يې کړه!

مه روان شناس ته ورځه او نه د عشق او مينې په کلماتو ځان دوکه کوه.

له شهوت او شبهې دواړو ځان وساته؛ تر څو رحمت او هدايت ته لاره خلاصه شي. موږ چې تر څو خپله اصلي پناه ګاه و نه پېژنو دغسې به سرګردانه يو.

هو! مسجد! د مؤمن «پناه ګاه» ده.

# افغان اعلانات

### اعلان داوطلبی

عنوان پروژه: «ترمیمات ساختمان ها وتاسیسات غیر ریلی استیشن های خطوط آهن حیرتان – مزار شریف»
؛
اداره خط آهن افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه» ترمیمات ساختمان ها وتاسیسات غیر ریلی استیشن های خطوط آهن حیرتان – مزار شریف» که دارای نمبر تشخیصیه ARA/1401/NCB/W-008 میباشد، اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات ا.ا.ا بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.

وصول شرطنامه از آدرس:
اداره خط آهن افغانستان، واقع ناحیه نهم، گذر ۲۷، سرک عمومی شش درک، مقابل سایت شرکت اتصالات، اداره خط آهن افغانستان – کابل؛ از ساعت ۰۸:۳۰ صبح الی ۰۳:۳۰ بعد از ظهر؛ ذریعه فلش میموری بدست آورده و تسلیمی آفرها الی روز یک شنبه تاریخ ۱۴۰۱/۱۰/۱۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر که آخرین میعاد ضرب الاجل تسلیمی آفرها میباشد صورت میگیرد. آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر به مبلغ (٤۸۰,۰۰۰) چهار صد و هشتاد هزار افغانی به شکل تضمین بانکی بوده و شرایط اهلیت مطابق مندرجات صفحه معلومات داوطلبی میباشد.

زمان آفرگشائی: روز یک شنبه مورخ ۱٤۰۱/۱۰/۱۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، منزل چهار اطاق کنفرانس.

قابل ذکر است که پروژه مذکور از طریق ویب سایت اداره خط آهن افغانستان نیز به اعلان سپرده می شود.

داوطلبان مکلف است تا فورم مالکیت ذینفع و بل احجام کاری پروژه را به صورت کامپیوتری خانه پری، مهر و اسکاشتیب شفاف نمایند.

آدرس: ناحیه نهم، گذر ۲۷، سرک عمومی شش درک، مقابل سایت شرکت اتصالات، اداره خط آهن افغانستان – کابل؛

شماره تماس: ۰۲۰۲۳۲۰۹٤۳ – ۰۷۷۱۹۲۰۸٤٦
ایمیل آدرس: maiwand047@gmail.com
abdulhalim.azizi7@gmail.com

نوت: داوطلبان حد اقل ۳۰ دقیقه قبل از زمان آفرگشایی در اداره تشریف بیاورند.

***

### اطلاعیه به کرایه دهی

شرکت حفظ و مراقبت مکروریان‌ها از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می‌نماید تا در پروسه داوطلبی کرایه‌دهی دکان ها و جایدادهای ذیل که برای سه سال قرارداد عقد می‌شود، اشتراک نمایند:

۱. دکان نمبر G-190به مساحت ٤۱,۸ متر مربع ساحه چهل باب مکروریان سوم الف
۲. دکان نمبر G-191به مساحت ٤۱,۸متر مربع ساحه چهل باب مکروریان سوم الف ؛
۳. دکان نمبر G-198 به مساحت ٤۱,۲۵ متر مربع ؛ ساحه چهل باب مکروریان سوم الف
٤. دکان نمبر G-199به مساحت٤۱,۲۵ متر مربع ساحه چهل باب مکروریان سوم الف
۵. دکان نمبرG-200به مساحت٤۲,۷۵ متر مربع ساحه چهل باب مکروریان سوم الف
٦. دکان نمبرA-005 به مساحت۳٦,٦۲متر مربع داخل مارکیت مکروریان اول
۷. دکان نمبرA-007 به مساحت۳۷,۸متر مربع داخل مارکیت مکروریان اول
۸. دکان نمبرA-008 به مساحت۵۱متر مربع داخل مارکیت مکروریان اول
۹. دکان نمبرA-011به مساحت۳٤,۱متر مربع داخل مارکیت مکروریان اول
۱۰. دکان نمبرA-014 به مساحت۳٤,۱متر مربع داخل مارکیت مکروریان اول
۱۱. دکان نمبرF-165 به مساحت٤۳,۳۲متر مربع ساحه انتری مکروریان سوم
۱۲. دکان نمبرF-167 به مساحت٤۱,٤۲متر مربع ساحه انتری مکروریان سوم
۱۳. دکان نمبرD-123 به مساحت۱۰٦,٤٤متر مربع ساحه مطبعه ازادی مکروریان سوم
۱٤. دکان نمبرD-125 به مساحت۹۷متر مربع ساحه مطبعه ازادی مکروریان سوم
۱۵. دکان نمبرD-126 به مساحت۸٤,۷۹متر مربع ساحه مطبعه ازادی مکروریان سوم

شرکت های تجارتی و اشخاص حقیقی که خواهش اشتراک در جلسه آفرگشایی را داشته باشند بعد از ارائه درخواست شرطنامه را از مدیریت تهیه و تدارکات در بدل مبلغ سه هزار افغانی پول بدون بازگشت بدست آورده و آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته بعد از سپری شدن ۲۱ روز از نشر اعلان غرض اشتراک در جلسه آفرگشایی به ساعت ۹:۳۰ بجه صبح به شرکت حفظ و مراقبت مکروریان‌ها ارائه نمایند، کرایه سه ماهه طور تضمین آفر نظر به شرطنامه نقداً در جلسه اخذ می‌گردد.

***

### اطلاعیه به کرایه دهی

ریاست باربری مرکز موازی ۱.۵ جریب زمین ملکیت مازاد خویش را به کرایه میدهد. اشخاص و شرکت های که خواهش قرار داد آنرا داشته باشند درخواستی های خویش را از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ یوم به مدیریت خدمات ریاست باربری مرکز واقع شمال میدان هوائی سرک قصبه ارایه نمایند. شرطنامه را ملاحظه و تضمین اخذ میگردد.۳۲۰٤

***

### اطلاعیه به کرایه دهی

شرکت سهامی افسوتر یک باب تعمیر سه طبقه ئی ملکیت خویش را واقع کوچه گلفروشی شهر نو کابل که دارای مشخصات ذیل می باشد از طریق داوطلبی به کرایه میدهد:

۱–دروازه ورودی ایمنی و محل پذیریش
۲–۲ باب اطاق برای دفتر و غیره ضرویات.
۳–۱۷ باب اطاق ، هر کدام مجهز با تشناب عصری ، ایرکندیشن و الماریها.
٤–۳ باب دوکان با موقعیت خیلی مناسب واقع کوچه گلفروشی شهر نو.
۵–۲ باب صالون.
٦–دهلیزها دارای الماری های و تشناب های مجهز.
۷–۱ باب تهکابی.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهش به کرایه گرفتن آنرا بمنظور هوتل و دفاتر داشته باشند ، درخواستی و آفرهای خویش بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز به ریاست افسوتر واقع کوچه گلفروشی شهرنو سپرده ، خود و یا نماینده قانونی شان ساعت ۱۰ قبل از ظهر در جلسه آفرگشایی اشتراک نموده ، شرطنامه راملاحظه تضمین نقدا اخذ میگردد.۳۲۰۷

***

### اطلاعیه به کرایه دهی

ریاست اوقاف وزارت ارشاد ،حج و اوقاف در نظر دارد ، جایداد های اوقافی نواحی شهر کابل را به کرایه می د هد .

۱–یک دربند سرای به مساحت ٤۸۲ متر مربع زمین جوار زیارت سید مرد واقع منطقه باغ قاضی ناحیه اول شهر کابل.
۲–دکاکین از نمبر اول الی دوازدهم طور جداگانه جوار زیارت سید مرد واقع ناحیه اول شهر کابل.
۳–موازی ۱٤ جریب زمین زراعتی واقع منطقه سرای آسیاب ناحیه ششم شهر کابل.

بناء از تمام علاقمندان که خواهش اشتراک در مجلس داوطلبی را داشته باشند تقاضا بعمل می آید ، از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ یوم درخواستی های خویش ر ا به ریاست اوقاف سرک دوم قلعه فتح الله بسپارند .شرطنامه قرار داد را اخذ نمایند.۳۲۰۹

***

### اطلاعیه تقرری

قرار است محترم عزیز الله فرزند غلام سعید دارنده تذکره نمبر ( ۱٤۸٦٦) مسکونه فعلی ناحیه ۱۱ در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید اگر به دوایر و موسسات مسولیت داشته باشند الی مدت یک هفته در ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت.۳۲۱۰

***

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز وکالت دفاع شماره ۳۰۲۵ مورخ ۲/ ۱۳۹۷/۷ مربوط محترم عبدالرحمن فرزند غلام رسول که شماره متذکره نیز درج آن می باشد مفقود گردیده است بناء از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۰۵

***

### اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ٤۳/۱۱۵ به اسم بلال علیزی فرزند عبدالجلیل و محترمه فریبا بنت جمعه گل مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۲۰۱

***

### اعلان دعوت به داوطلبی

عنوان: پروژه تهیه وتدارک نیازمندی (۵) قلم اجناس مورد ضرورت جامعه عبدالله ابن مسعود (رض) برای کنفرانس روم

شماره دعوت به داوطلبی: MOHE/1401/G-034

وزارت تحصیلات عالی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه وتدارک نیازمندی (۵) قلم اجناس مورد ضرورت جامعه عبدالله ابن مسعود (رض) برای کنفرانس روم اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را به طور رایگان در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات، وزارت تحصیلات عالی بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت {۱۰:۰۰} قبل از ظهر روز { دوشنبه } تاریخ {۱۲ جدی ۱٤۰۱} به ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار ناحیه سوم کابل افغانستان ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر به شکل بانک گرنتی ویا پول نقد: مبلغ (۱۵,۲۷۵) پانزده هزارو دوصدو هفتادو پنج افغانی ارایه گر دد.

جلسه آفر گشایی به روز { دو شنبه} تاریخ {۱۲ جدی ۱٤۰۱} ساعت {۱۰:۰۰قبل از ظهر}در {صالون آفرگشایی ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار، ناحیه سوم،کابل افغانستان} تدویر می گردد.

شماره تماس:۰۲۰۲۵۱٤۰۷۸

آدرس الکترونیکی:rafiullah.naeemi@gmail.com

نوت: جلسه قبل از آفر گشایی شنبه ۳ جدی ۱٤۰۱ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در دفتر جلسات ریاست تدارکات تدویر میگردد.
۳۲۱۱

***

### اعلان دعوت به داوطلبی

عنوان: پروژه خریداری نیازمندی کمپیوتر و پرنتر موسسه تحصیلات عالی نیمروز

شماره دعوت به داوطلبی: MOHE/1401/G-035

وزارت تحصیلات عالی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه خریداری نیازمندی کمپیوتر و پرنتر موسسه تحصیلات عالی نیمروز اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را به طور رایگان در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت {۱۰:۰۰} قبل از ظهر به روز {یکشنبه } تاریخ {۱۱ جدی ۱٤۰۱} به ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار ناحیه سوم کابل افغانستان ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر به شکل بانک گرنتی و یا پول نقد مبلغ (٦۰,۰۰۰) شصت هزار افغانی ارایه گردد.

تضمین آفر باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد، یعنی مدت ۱۱۸ روز از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبار باشد.

جلسه آفر گشایی به روز {یکشنبه} تاریخ {۱۱ جدی ۱٤۰۱} ساعت {۱۰:۰۰قبل از ظهر}در {صالون آفرگشایی ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار ناحیه سوم کابل افغانستان} تدویر می گردد.

شماره تماس:۰۲۰۲۵۱٤۰۷۸

آدرس الکترونیکی: saririnasrat90@gamail.com

نوت: جلسه قبل از آفرگشایی به روز پنجشنبه ۱ جدی ۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تدارکات اجناس و خدمات غیر مشورتی، ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی تدویر می گردد.۳۲۱۲

***

### « اطلاعیه تصمیم اعطا ی قرار داد »

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود که وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در نظر دارد تا پروژه تدارک ٤٤ قلم قرطاسیه باب بشمول رنگ های پرنتر و کاپیر مورد ضرورت ریاست اداری تحت داوطلبی باز داخلی با کود نمبر MAIL/PD/NCB/G84/ 1401/Rebid را به شرکت تجارتی پامیر زریاب دارای جواز نمبر (٤٦۹۷۱) به قیمت مجموعی مبلغ ۲,۲۲٤,۲۵۰(دو میلیون و دو صدو بیست و چهار هزار و دو صد و پنجاه افغانی) اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشراین اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تهیه وتدارکات وزارت زراعت، آبیاری و مالداری واقع کارته سخی، جمال مینه، وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرار داد منعقد نخواهد شد.

***

### « اطلاعیه تصمیم اعطا ی قرار داد »

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل وسوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود که وزارت زراعت، آبیاری ومالداری در نظر دارد تا تدارک ۱۳ قلم خوراکه حیوانی فارم تحقیقات مالداری بینحصار و فارم تحقیقات مالداری ریشخور در دو لات ، وزارت زراعت آبیاری ومالداری را تحت داوطلبی باز داخلی با کود نمبر 02-01-MAIL/PD/NCB/G90 1401 به شرکت تجارتی بسیا دارای جواز نمبر (۸۳۲۵۱)، لالت اول را به قیمت مجموعی مبلغ ۳,۹٤۷,۰۸۰ (سه ملیون ونه صدو چهل و هفت هزار و هشتاد افغانی) ولات دوم رابه قیمت مجموعی ٤,۵۹٤,۵٦۵,۵ (چهار ملیون و پنج صدو نود وچهار هزارو پنج صدو شصت و پنج اعشاریه پنج افغانی ) و مجموع هردو لات را به قیمت مجموعی مبلغ ۸,۵٤۱,٦٤۵,۵۰ ( هشت ملیون و پنج صدو چهل ویک هزار و شش صدو چهل و پنج اعشاریه پنج افغانی ) اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشراین اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تهیه وتدارکات وزارت زراعت، آبیاری و مالداری واقع کارته سخی، جمال مینه، وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرار داد منعقد نخواهد شد.

***

### اطلاعیه تصمیم اعطا ی قرار داد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل وسوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود که وزارت زراعت، آبیاری ومالداری در نظر دارد تا پروژه (تدارک دو قلم مواد محروقاتی مقدار۸۰۳۵ سیر چوب بلوط ومقدار ۳۵۳۰٤ کیلو گاز مایع) وزارت زراعت آبیاری ومالداری تحت ریفرنس نمبر MAIL/PD/NCB/ 1401 G89را طور ذیل: مقدار ۳۵۳۰٤ کیلو گاز مایع را از قرار فی کیلو ٦۹,۸ افغانی که قیمت مجموعی ان مبلغ ۲,٤٦٤,۲۱۹,۲۰ – دو ملیون و چهار صد شصت چهار هزارو دو صد نوزده اعشاریه بیست افغانی) را احتوا میکند، به شرکت محترم تجارتی جان آغا سمیع لمیتد دارای جواز نمبر (۲۵–۰۱۰۱)، و مقدار ۳۵۳۰٤ چوب بلوط از قرار فی سیر ۸۱,۹ افغانی که قیمت مجموعی ان مبلغ ٦۵۸,۰٦٦,۵ (شش صد پنچاه و هشت هزار شصت و شش اعشاریه پنج ) میشود به شرکت محترم خدمات لوژستیکی و ساختمانی عثمان حسیب اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشراین اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تهیه وتدارکات وزارت زراعت، آبیاری و مالداری واقع کارته سخی، جمال مینه، وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرار داد منعقد نخواهد شد.

## د قصاص تطبیق په پراخه کچه ...

د مولوي عبدالرحمن محمود په نامه یو بل لیکوال او استاد وایي: د ألله رب العزت شرعي حدود د عمومي أمن أو مصالحو هغه مجربه نسخه ده چي په بل هیڅ دین کي نشته. که قاتل پوه شي، چي زه به وژل کیږم، أیا بیا به هم د یو چا د قتل إراده وکړي؟ نه، هیڅکله نه!

د احمد خوستي په نامه یو بل هېوادوال لیکلي: بي بي سي او ازادي راډیو هم پر خپلو پاڼو د قصاص خبرونه نشر کړي، خو جالبه دا ده چې د هغوی د تمې خلاف، په زرګونو مثبت لایکونه او کمنټونه یې اخیستي. دا ملت مسلمان دی او یوازې د اسلامي قانون غواړي.

د دوی تر څنګ په زرګونو هېوادوالو په ټولنیزو رسنیو کې د دغه الهي حکم تطبیق ستایلی او له اسلامي امارته یې غوښتي، چې مجرمینو سره جدي برخورد وکړي او په ټولو برخو کې الهي احکام تطبیق کړي.

## دشمنان در جنگ تبلیغاتی و اقتصادی هرگز ...

که در برابر این تبلیغات ایستاده گی صورت گیرد وآنچه که واقعیت است انعکاس داده شود. قاری سیف الله انس، آمر رادیو تلویزیون ملی جوزجان از تشریف آوری معین امور جوانان وزارت اطلاعات وفرهنگ به آن ولایت ابراز خرسندی نموده گفت: با تمام قوت در برابر جنگ تبلیغاتی دشمن ایستاده گی می‌نماییم و آنچه که واقعیت است انعکاس می دهیم. به گفتهٔ آمر رادیو تلویزیون ملی جوزجان، نسبت به هر زمان دیگر نشرات رادیو تلویزیون ملی همه شمول شده است که اقوام مختلف با زبان‌های مختلف با وحدت و همدیگر پذیری برنامه‌های متفاوتی را اجرا می کنند. معین وزارت امور جوانان وزارت اطلاعات فرهنگ در این سفر از بخش‌های مختلف رادیو تلویزیون ملی جوزجان نیز دیدار نمود.

## له کمپنۍ څخه تر برچې پورې ...

کولو چارې له نږدې ولیدې او د چارو دلا ګرندیتوب لپاره یې اړوندو مسوولانو ته لازمې سپارښتنې وکړې. دغه سړک چې، (۲,۲) کیلومتره اوږدوالی او (۳۰) متره پراخوالی لري او دیوه معیاري سړک ټول جزیات پکې شامل دي، پنځمه ناحیه له دیارلسمې ناحیې سره نښلوي. د یادولو وړ ده چې، په خپل وخت سره ددې پروژې د پلي کولو په موخه یاد سړک دجوړولو چارې له دوارو خواوو په چټکۍ سره روانې دي. کابل ښاروالۍ چمتو ده څو د دې سړک په اوږدوکې د استملاک شویو کورونو مالکانو ته د استملاک قانون له مخې حقوق ورکړي.

## ننګرهار کې د کانال په ځمکه د مالټو نوي ...

ترلاسه کیږي.
ددې ترڅنګ زرګونو خلکو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې رئیس همدارنګه وویل «هڅه کوو چې د کانال د ځمکو حاصلات بهرنیو هیوادونو ته هم صادر کړو چې پدې برخه کې پرمختګ شوی او یوشمېر حاصلات مو بهرنیو هیوادونو ته د افغانستان په نوم صادر کړي.»

## دفاع وزیر دوبۍ کې د مېشتو افغانانو د ستونزې ...

به د متحده عربي اماراتو له مسوولینو سره شریکې کړي او ان شاءالله ډېر ژر به حل شي. همدا راز د ملي دفاع سرپرست وزیر څرګنده کړه، چې افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی او موږ ټول باید په دې حساسو شرایطو کې چې په هر ځای کې یو د خپل کور په ودانولو کې فعاله او مسوولانه ونډه واخلو.

## غزني: د تیر کال په پرتله، د مستوفیت ...

تر اوسه ۲۳۰ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي، چې د تېر کال په پرتله ۲۰ سلنه زیات شوي او امکان لري چې دا ارقام لا هم لوړ شي. مولوي عثمان وایي، چې د عوایدو د زیاتوالي لامل په شفاف ډول د عواید راټولول او د فساد مخنیوی بولي.

## بیشتر از ۷ هزار جریب زمین از نزد غاصبان ...

وزارت عدلیه با نشر خبرنامه یی گفته است، کمیسیون جلوگیری از غصب زمین که از سوی وزارت عدلیه رهبری می شود دو هزار جریب زمین را در ولسوالی چوری ارزگان، چهارهزار و هشت صد و هفتاد و چهار جریب را در مرکز سرپل و پنجصد و شصت و یک جریب را در پروان از نزد غاصبان واپس گرفته است. کار کمیسیون ادامه دارد.

## ننګرهار کې د ۴۵ میلیونو ...

سړک د ۲.۸ کیلومترو په اوږدوالي او ۱۰ مترو په پلنوالي سره د یادې ښاروالۍ له بودجې څخه رغول کېږي، چې چارې به یې په ۶ میاشتو کې بشپړې شي.
د یاد ونې وړ ده، چې د دغه سړک په جوړېدو سره به د دغې سیمې سلګونه کسانو ته د کار زمینه برابره شي.

## کونړ کې د ۱۲ میلیونو افغانیو ...

کمبټې په مالي ملاتړ د شیګل ولسوالۍ په موڼي کلي کې د یو منځني ښوونځي د ودانۍ جوړېدو چارې د ۱۲ میلیونو افغانیو په لګښت بشپړې او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
دا په داسې حال کې ده چې د اسلامي امارت په بریالیتوب سره په ټول هېواد کې د بیا رغونې چارې په چټکۍ سره روانې دي.

## د ټولګټو سرپرست وزیر د غزني-مقر ...

وارزولې او د پروژې مسوولینو ته یې د کار د لا ښه والي او چټکتیا په موخه لازمې لارښوونې وکړې. هغه دغه راز اړوند مسوولینو ته لارښوونه کړې چې د یادې لویې لارې د هغو ویجاړو شویو برخو د بیرني او مؤقت ترمیم لپاره سیار ټیم وګوماري چې د ټګ راټګ پرمهال یې خلکو ته ستونزې رامنځته کړې او هم یې د قیر اچونې بهیر له ځنډ سره مخ کړی دی. د یادونې وړ ده چې د ټولګټو وزارت له لوري د کابل-قندهار لویې لارې د اساسي ترمیم او بیارغونې کار او سمهال په درېو برخو (میدان وردګ-غزني، غزني-مقر او زابل-قندهار) کې دوام لري.

## برای سه سال آینده پروژه‌های انکشافی ...

در این ملاقات، خانم سورایو معاون برنامه‌های انکشافی سازمان ملل از ادامه و افزایش فعالیت‌های شان در افغانستان یاد آورشد و گفت: به ولایت‌های لوگر، پکتیا، خوست، پکتیکا، کندهار و ننگرهار سفر داشته و دریافته است که مردم در بخش‌های زیر بنایی و پایدار نیازمند به همکاری اند.
او همچنان گفت: سازمان ملل برای رفع نیازمندی‌های مردم در افغانستان کار می‌کند وهمچنان در بخش‌های معیشیت، زراعت و آبیاری، برای سه سال آینده پروژه‌های زیادی دارد که در ۳۴ ولایت افغانستان تطبیق خواهد شد.

## د هېواد په ۵ ولایتونو کې سلګونو بې وزله کورنیو ...

ګنجوره ورکړل شي.
په ورته وخت کې د پکتیکا په ګسان ولسوالۍ کې د چاپان یا ستاسو غږ اداري په مالي ملاتړ پر ۴۱۸ زلزله ځپلو کورنیو ۱۷ قلمه خوراکي او غیرخوراکي توکي وویشل شول.
په همدې حال کې د نورستان کدوالو چارو ریاست لخوا سل ۱۰۰ بې ځایه شویو او اړمنو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه، چې هرې کورنۍ ته ۲۵ کیلوګرامه وریجې ورکړل شوې.
همدارنګه د نیمروز په چخانسور ولسوالۍ کې زیانمن شویو کورنیو سره د DRC موسسې له خوا نغدي مرسته وشوه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۲۸ زره افغانۍ ورکړل شوې.

## تکمیل شدن کار اعمار یک سرک ...

تنویر پایه‌های برق به شکل سولری است که از سوی شاروالی کابل به همکاری دفترهبیتات و ده فیصد سهم مردم تکمیل شده است.

## نړیوال دې هم زموږ د ځمکنۍ بشپړتیا احترام ...

کې له نوي سره قومي، مذهبي او سمتي اختلاف را پارولو ته لمن وهي او د خپلو ځینو اجیرانو په لاس د فساد کولو هڅې کوي. تر دې چې خپله همدغه ټام ویست پر له پسې مندې تر ړې وهي، تشویشونه ایجادوي او ځینې خاینې تجربه شوې څېرې یو ځل بیا میدان ته راوستل غواړي. له بلې خوا همدغه د امنیت او بشري حقونو بیرغچې امریکا لګیاده زموږ پر فضایي ساحه تېری کوي او زموږ د ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا ذره درناوی هم نه کوي. مطلب دا چې اوسنۍ نړۍ مطلقاً د زورورو په کنټرول کې ده، دلته د ځنګل قانون چلیږي او هر زورواکی تر خپله وسه ظلم او بدماشي کوي. د هېوادونو ترمنځ د احترام او حقوقو منطق هیڅ اورېدونکی او منونکی نه لري او نه د ګردې نړۍ پرمخ داسې کوم جهت شته چې د یو مظلوم فریاد واوري. بناءً ښه به داوي چې افغانان هم د اوسنۍ نړۍ موجوده وضعیت او واکمن ځنګلي قانون په تمامه معنا درک او دغسې بیهوده مجالسو کې حتی خپله یوه شېبه هم ضایع نه کړي. همدا د هر با احساسه، مؤمن او هېواد پال افغان ایماني، ملي او وطني ذمه واري ده. لازمه ده چې په کامل وحدت، اخلاص او جدیت خپله ټوله پاملرنه فقط د هېواد بیارغونې او پرځان بسیاینې ته وګرځوي. راځئ د زړه له تله دا واقعیت ومنو چې زموږ د دین، ناموس، پت او عزت خوندیتوب او سرومال ساتنه یوازې په همدې خاوره کې ممکنه ده. د همدې خاورې دفاع او ودانۍ ته به ملاتړو، ستومانې به ګالو او همدلته به سوکالي او نېکمرغي تر لاسه کوو.

## ۲۵۰ روږدي کسان خپلو کورنیو ته راستانه...

محمد اسحق صاحبزاده د دې روږدو کسانو د رخصتۍ او کورنیو ته د سپارلو په پار جوړې شویو مراسمو ته په وینا کې وویل: (هغه کسان چې له خپلو کورنیو لرې ول او په نشه یي توکو روږدي ول دا د شکر ځای دی چې د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت له لوري یې درملنه وشوه او نن بېرته خپلو کورنیو ته یې سپارل کېږي.) ښاغلي معین زیاته کړه چې، د عامې روغتیا وزارت له لوري په تېر یوه کال کې د نږدې ۲۷۰۰۰ روږدو کسانو درملنه شوې او له رغېدو وروسته بېرته کورنیو ته یې سپارل شوي، له دې ډلې ۸۲۰ هغه روږدي کسان ول چې کورنۍ یې معلومې نه وې او له کورنیو یې ورک ول د عامې روغتیا وزارت د دوی کورنۍ پیدا او د ترانسپورټ په وسیله یې دغه کسان تر کورونو ورسول.
د معتادینو زر بستریز روغتون رئیس، مولوي عبدالناصر منقاد یادو مراسمو ته په وینا کې وویل چې نږدې ۱۱۰۰ نور روږدي کسان هم په دغه روغتون کې تر درملنې لاندې دي چې له رغېدو وروسته به یې کورنیو ته وسپارل شي.
د یادونې وړ ده چې د عامې روغتیا وزارت له لوري د افغانستان د کرکټ ملي لوبډلې لوبغاړی، ګلبدین نایب د اعتیاد څخه د مخنیوي په برخه کې د عامې روغتیا وزارت سفیر وټاکل شو.

## د افغانستان بانک د عالي شورا غونډه جوړه ...

مخې؛ د افغانستان بانک په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې غونډه کې، د افغانستان بانک سرپرست عبدالقاهر (حاجي ادریس) او د افغانستان بانک د عالي شورا نورو غړیو په حضوري او آنلاین ډول ګډون کړی و. د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې؛ په دې غونډه کې د افغانستان بانک د اجراآتو د څرنګوالي او د ټاکل شویو پروګرامونو د تحقق ترڅنګ د افغانستان د اقتصادي وضعیت، د پولي سیاست د پلي کېدو د څرنګوالي، د بانکي سکتور د ټینګښت، د مالي نظام د ټیکاو، د ادواینو بهیر د ډیجیټل کولو، د خلکو لپاره د بانکي اسانتیاوو رامنځته کولو او ځینو اداري موضوعاتو په اړه بحث شوی او د قانون د احکامو په رڼا کې لازمې پرېکړې شوې دي.
دغه غونډه پرون پیل شوې ده او پرون پای ته ورسید.
د یادونې وړ ده، چې د افغانستان بانک عالي شورا په کال کې څلور غونډې ترسره کوي او د بانک د سیاستونو، کړنو، اجراآتو او لاسته راوړنو په اړه پکې خبرې او همدا رنګه د افغانستان بانک د کړنو او د هېواد د مالي او بانکي نظام د پیاوړتیا لپاره په کې اړینې پرېکړې کېږي.

## رفع مشکل کمبود کتب درسی در ...

توزیع گردد.
وی توزیع این کتاب‌ها را در قسمت بهبود کیفیت درسی مهم عنوان کرده خاطر نشان ساخت: نبود و کمبود کتاب درسی در گذشته یکی از چالش‌های عمدهٔ فرا راه معارف بغلان به حساب می‌رفت که با رسیدن این کتابها به این مشکل نقطه پایان گذاشته شد.
باید گفت در سطح ولایت بغلان ۵۶۳ مکاتب ابتداییه، متوسطه و لیسه وجود دارد.

## د کانونو او پټرولیم وزیر ...

د استخراج څرنګوالي په اړه شیخ الحدیث دلاور ته معلومات وړاندې کړل.
هغوی دغه راز د کان کېندنې د ښه والي په برخه کې، خپلې یو لړ ستونزې او وړاندیزونه له سرپرست وزیر سره شریک کړي او د حل غوښتنه یې کړې ده.
د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر، د یادو استازو د ستونزو او وړاندیزونو له اورېدو وروسته، هغوی ته ډاډ ورکړی چې ستونزو ته به یې د رسیدنې په برخه کې همکاري وکړي.

## اسلامي امارت له خصوصي سکتور ...

زیاته یې کړه، چې خصوصي سکتور په ځانګړې توګه د کرنې او مالدارۍ خونه د خلکو او حکومت ترمنځ حیاتي رول لري.
نوموړي دغه راز دغې خونې ته د اسلامي امارت د ځانګړې پاملرنې غوښتنه هم وکړه.
د ریاست الوزراء د دفتر عمومي رئیس هغوی ته وویل چې د راتلونکي لپاره به لا ډېرې دغه ډول غونډې ولري، ترڅو د هغوی وړاندیزونه، غوښتنې او ستونزې په ټاکلي وخت د اسلامي امارت له مسوولینو سره شریک شي.

## ننګرهار کې د ۲۶ میلیونه افغانیو په ...

سید فضل احد وویل، چې په خوګیاڼو ولسوالۍ کې د کرې کانال ۱۲ کیلومتره اوږدوالی، ۵۰۴ متره استنادي دېوال، د اوبو ۳۰ بندونه او دوه پلګوټې هم رغول شوي او د دغه ولسوالۍ د پیرخېلو کانال د ۸ کیلومترو په اوږدوالي او د ۷۷۹ متره استنادي دېوال ترڅنګ د اوبو ۱۰ بندونه رغول شوي دي. او په شېرزادو ولسوالۍ کې د پیټلو کانال د ۴.۵ کیلومتره اوږدوالي، ۲۹۳ استنادي دېوال او ۳ دروازې او د مرکي خېلو کانال د ۸ کیلومترو په اوږدوالي او ۳۵۴ متره استنادي دېوال په لړلو سره په اساسي ډول رغول شوي دي. د یادونې وړ ده، چې په خوګیاڼو ولسوالۍ کې د دوارو پروژو په رغولو ۱۴ میلیونه ۲۶۱ زره افغانۍ او د شېرزادو ولسوالۍ د کانالونو په رغولو ۱۲ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی دی.

## پر ملاتړ کوونکو موسسو د تکیې کمولو او ...

موخه پاکستان هېواد ته لېږل په ګوته کړل. سرچینې زیاته کړه، چې د شفري نسخو د بندولو په موخه یې هم ټولو ولایتونو ته مکتوبونه استولي، چې په عملي کېدو سره به یې دغه ستونزه تر ډېره بریده حل شي. د ډاکټر شرافت زمان په وینا په تېر یوه کال کې له ۳۵۰۰ روغتیایي مرکزونو څخه څارنه کړې او قانوني چلند ورسره شوی دی. نوموړي همدارنګه وویل، چې د عامې روغتیا وزارت هر افغان ته د عادلانه او منصفانه روغتیایي چوپړتیاوو وړاندې کولو ته ژمن، او هڅه کوي، چې خپل خدمات د هېواد هر ګوټ ته ورسوي. د دغه ځانګړې مرکې بشپړ جزیاته په ویډیویي بڼه د باختر اژانس په یوټیوب چینل کې کتلای شئ.

## فراه کې پر یوه قاتل د قصاص حکم ...

لېږل شوې او هلته هم د پوره احتیاط او غور په موخه د عالمانو په یوه مشورتي ناسته کې تائید شوې ده. د قصاص دغه حکم پرون د فراه ولایت په مرکز کې د یوې لویې غونډې په ترځ کې عملي شوه، چې د سلګونو کسانو تر څنګ په کې، د سترې محکمې رئیس، د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال، د عدلیې، کورنیو چارو، بهرنیو چارو او امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارتونو سرپرستانو او ګڼو نورو مسوولینو ګډون کړی وو.

## کار فازل اول کانال قوش‌تپه یکسال کمتر از وقت...

به ولایت بلخ، از کانال بزرگ قوش تیپه دیدن کرد در حال حاضر کار روی ۴۲ کیلومتر این کانال ادامه دارد که سی و چهار در صد آن تکمیل شده است' این کانال با طول ۱۰۸ کیلومتر از ولسوالی کلدار تا ولسوالی دولت آباد بلخ ادامه خواهد یافت. مولوی عبدالسلام حنفی گفت از این که بخش اول کانال قوش تیپه که قرار بود در دو سال تمام شود، تا ماه جوزای سال آینده یعنی در ظرف یک سال تکمیل می‌شود خوشحال است. وی افزود: در جریان کار بخش اول، قرار بود روزانه باید سه صد و شصت هزار متر مکعب کندن کاری صورت بگیرد، اما حالا روزانه ششصد و پنجاه هزار متر مکعب (یعنی تقریبا دو چند برنامه) کندن کاری صورت می گیرد. حنفی گفت: امارت اسلامی متعهد است این پروژه ملی و حیاتی را به پایه اکمال برساند.

## هر څوک چې هېواد ته راوکرځي دلته ...

په خپل هېواد کې خوندي او با عزته ژوند لري او په اوسني وخت کې هېواد د ټولو افغانانو یووالي او ګډ کار ته ضرورت لري.
نوموړي زیاته کړه، د پخوانۍ ملي شورا د غړو په شمول ګڼ بهر مېشتي افغانان چمتو دي، چې هېواد ته راوګرځي. د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر نجیب الله ناصر ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل، چې د نظام پایښت، د هېواد رغولو او له ستونزو څخه د خلاصون لپاره اړتیا ده چې ټول هېوادوال په ګډه د همکارۍ لاسونه سره ورکړي. مولوي عبدالکبیر وویل، هر څوک چې هېواد ته راوګرځي دلته به یې عزت او ابرو خوندي وي او له درنښت ډک ژوند به ولري.
نوموړي دغه راز له ټولو افغانانو وغوښتل، چې هېواد ته راستانه شي او په ګډه د هېواد په آبادۍ کې ونډه واخلي.

## د کندهار د صنایعو او کانونو خونې لپاره نوې ودانۍ ...

د باختر آژانس د خبر له مخې؛ په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د کندهار د صنایعو او کانونو خونې رئیس سیدسرور آغا اماني د کندهار له والي مننه وکړه، چې د صنعت پرمختګ ته ځانګړې پاملرنه لري او د هر ډول اسانتیاوو برابرولو ترڅنګ یې شته ستونزې هم له منځه وړې دي. وریسې د ملګرو ملتونو اړوند د بشري مېشتېدنې اداري («Habitat») ولایتي استازي سید نادرشاه زغم وویل، چې دا ودانۍ د بشري مېشتېدنې اداري له لوري پر ۱۵۲ متره مځکه په دوه پوړو کې جوړېږي، چې ۴۳ زره ۳۵۲ امریکایي ډالره لګښت پرې راځي، چې چارې به یې د ۳ میاشتو په موده کې بشپړې شي.
وروستیو کې د کندهار والي د ملګرو ملتونو اړوند د بشري مېشتېدنې اداري له مسئولینو د مننې ترڅنګ وویل، چې د دغې ودانۍ په جوړېدو سره به د صنایعو خونو شته ستونزې حل شي.

## ۲۴ هزار تن در سراسر کشور در بخش کارهای رضاکارانه ...

معاون هلال احمر افغانی و شماری از رضاکاران از سوی هلال احمر افغانی بزرگداشت شد. مولوی مطیع الحق خالص رئیس عمومی هلال احمر افغانی ، در مورد ارزش فعالیت های رضاکاران صحبت کردو گفت که کار رضاکاری، وظیفه دینی، انسانی و اخلاقی است. وی گفت: رضا کاران ، اساس و ستون فقرات این جامعه است نیازمندان جامعه را شناسایی می کنند، مشکلات مردم را می شنوند و نماینده جامعه هستند، وی همچنین افزود: در حال حاضر ۲۴ هزار تن در سراسر کشور در بخش کار های رضاکارانه فعالیت دارند.

## پروان کې ۵۶۱ جریبه امارتي ځمکه تثبیت ...

دغه راز د دغه ولایت د ځمکې د غصب د مخنیوي تخنیکي هیئت د بګرام ولسوالۍ د خم کلان سیمې له اوسېدونکو سره وکتل او له هغوی سره یې د ځمکې د غصب څخه د ځان ساتلو په اړه خبرې وکړې.
له بلې خوا د ننګرهار د تخنیکي هیئت په ناسته کې پرېکړه وشوه، چې د کوز کنړ ولسوالۍ د ځمکو د غصب موضوع د ولایت له مقام سره شریکه کړل شي. دغه راز یاد هیئت د کوټ ولسوالۍ او هسکې مینې د میدان سیمه وڅېړله او په پایله کې یې امارتي ځمکه تثبیت کړه.
پر دې سربېره د دوو تېرو ورځو په لړ کې فاریاب، سرپل، جوزجان، تخار، سمنګانو، بغلان او غور ولایتونو کې هم د غصب شویو ځمکو تخنیکي هیئتونو خپلې ناستې کړې دي او د امیرالمومنین حفظه الله فرمان یې خلکو ته تشریح کړی او ترې غوښتي یې دي، چې له غصب څخه ډډه وکړي.
د کابل تخنیکي هیئت، د ملاه ترخېل ښارګوټي د څېړلو راپور جوړ کړ او دوه تخنیکي ټیمونه یې د ګوسفند درې، خاک جبار او د ملا جاوید او المصور ښارګوټو د څېړنې په موخه وټاکل.

## نورستان کې هغه دښمني پای ته ورسېده، چې په کې له دوارو لوریو ...

غونډه کې د قومونو او قبایلو چارو وزیر مولوي نورالله نوري د سولې په ارزښت خبرې وکړې او ویې ویل، چې سوله کې خیر دی او دا د خدای (ج) امر دی، چې په خپلو منځو کې سوله وکړئ. د کامدېش او کشتوز قومونو ترمنځ په سل کلنه شخړه کې له دوارو لوریو ۲۶۴ کسان وژل شوي وو، چې دا په نورستان کې تر ټولو اوږده دښمني بلل کېږي.
د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم قومي مشرانو او د تېرو حکومتونو په لړ کې ۶ ځلې د دوارو لوریو ترمنځ جرګې او فیصلې شوې وې، خو د تطبیق په برخه کې د وخت حکومتونه پاتې راغلي وو.

Shariat
Twice printed in week

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: Shariatdaily@gmail.com
WWW: dailies.gov.af / shariat ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رییس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤول مدیر: فاروق غلجي/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت بریښنا لیک: Shariatdaily@gmail.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Thursday 08 December 2022 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 108

## افتتاح یک فابریکهٔ پروسس پنبه به هزینهٔ ۵۵ میلیون افغانی در قندهار



شریعت: فابریکه‌ی جدید پروسس پنبه در پارک صنعتی قندهار توسط محمد یوسف وفا والی آن ولایت افتتاح شد.
این فابریکه به هزینهٔ ۵۵ میلیون افغانی ساخته شد که توانایی پروسس ۳۲ تُن پنبه، ۲ تُن روغن، ۲۰ تُن مواد خوراکه حیوانات و دو و نیم تُن صابون را در ظرف ۸ ساعت دارد.
به گفتهٔ مسؤولان، در این فابریکه‌ی پروسس پنبه برای ۶۰۰ نفر به صورت مستقیم و غیرمستقیم زمینهٔ کار فراهم شده است. سید سرور آغا امانی، رئیس اطاق صنایع و معادن در مراسم افتتاحیه فابریکه‌ی جدید پروسس پنبه در پارک صنعتی شوراندام گفت که در حال حاضر ۲۷ فابریکه پروسس پنبه در قندهار فعالیت دارد که برای ٤۵۰۰ نفر به صورت مستقیم و غیر مستقیم زمینهٔ کار فراهم شده است.

## د قصاص تطبیق په پراخه کچه وستایل شو

**شریعت:** پرون چهارشنبه په فراه کې؛ پر یوه قاتل باندې د قصاص حکم تطبیق شو، چې د هېواد په ګوټ، ګوټ کې ټولو خلکو وستایه او د الهي احکامو تطبیق یې د ټولنې یو اهم ضرورت وګاڼه. خلک وايي، اسلامي امارت باید په ټولو برخو کې شرعي حدود تطبیق کړي، تر څو د فساد مخنیوی وشي او خلک د امن ساه واخلي.
لیکوال او استاد مولوي عبدالحق حماد ویلي: الحمدلله؛ نن د اسلامي نظام یو اساسي حکم نافذ شو، نور به دلته څوک د چا د وژلو فکر نه کوي!
دکتور غلام عمر عبدالله وايي: قصاص او د نورو شرعي حدودو تطبیق د اسلامي نظام له بنسټیزو اهدافو څخه دي او په پلي کېدو یې ټولنه اصلاح کیږي. دغه راز د عادل عمري په نامه یو بل هېوادوال لیکلي: چېرته چې د الله تعالی حدود مراعت او تطبیق یې د قران او سنتو په رڼا کې نافذ شي، نو الله تعالی په هغه ټولنه کې د اوسیدونکو د حفاظت ضمانت کړی. هیله ده چې پر ټولو قاتلینو دغه الهي حکم تطبیق شي... ۶مخ

## لوګر کې له نږدې ۶۰۰ ښځینه زده کوونکو د دولسم ټولګي کلنۍ آزموینه واخیستل شوه

شریعت: د لوګر د مرکز او ولسوالیو د نجونو په ۱۸ لېسو کې د دولسم ټولګي له شاوخوا ۵۹۸ ښځینه زده کوونکو څخه دري ساعته کلنۍ ازموینه واخیستل شوه.
د پوهنې ریاست ویاند شاپور عرب وايي؛ دغه ازموینه د پوهنې وزارت د رالېږل شوي تګلارې له مخې؛ په یادو ټولو لیسو کې همهاله د سهار په ۱۰ بجو پیل او د ماسپښین تر یوې بجې پورې یې دوام وکړ.
عرب زیاته کړه، چې د دې ازموینې د اخیستو لپاره پوره ۳ ساعته وخت ټاکل شوی و، سوالونه یې د پوهنې وزارت له خوا ترتیب شوي وه، چې د ټولو درسي مضمونونو ۱۴۰ پوښتنې یې لرلې.
د یادې ازموینې پایلې به د راتلونکې چهارشنبې پر ورځ اعلان شي، چې کامیابه شوې زده کوونکو ته اطلاعامې او د فراغت اسناد هم ورکړل شي.

### معین جوانان:
## دشمنان در جنگ تبلیغاتی و اقتصادی هرگز پیروز نمی‌شوند

شریعت: معین امور جوانان وزارت اطلاعات و فرهنگ در دیدار با آمر و کارمندان رادیو تلویزیون ملی جوزجان می گوید، دشمن در جنگ فزیکی ناکام شده است حال قصد دارند با جنگ تبلیغاتی پیروز شود که هرگز به این خواسته‌های شان دست نمی یابند.
قاری محمد یونس راشد، معین امور جوانان وزارت اطلاعات و فرهنگ کشور در این نشست گفت، که دشمنان امارت اسلامی با راه اندازی جنگ تبلیغاتی می‌خواهند مانع پیشرفت و آبادی افغانستان شوند.
به گفتهٔ معین امور جوانان، حال فرصت آن رسیده است... ص۶

## کونړ کې د ۱۲ میلیونو افغانیو په لګښت د یو ښوونځي لپاره ودانۍ جوړه شوه

شریعت: د کونړ د پوهنې ریاست مسوولین وايي، چې په شیګل ولسوالۍ کې د ۱۲ میلیونو افغانیو په لګښت د یو منځني ښوونځي ودانۍ چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
د کونړ مرستیال والي مولوي عبدالله حقاني وايي، چې د سویدن... ۷مخ



## اسلامي امارت له خصوصي سکتور سره ښو اړیکو ته ژمن دی

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء د دفتر عمومي رئیس ډاکتر ملا عبدالواسع پرون د افغانستان د کرنې او مالدارۍ تولیداتو خونې د رئیس حاجي خان محمد فروتن په مشرۍ د یادې خونې له مدیره پلاوي سره په کتنه کې د دې خونې پر پیاوړتیا او لا غوړېدو بحث او خبرې وکړې. د باختر آژانس د خبر له مخې؛ ډاکتر ملا عبدالواسع یاد پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې له خلکو په ځانګړې توګه خصوصي سکتور سره یې د کتنو موخه د اسلامي امارت او خصوصي سکتور ترمنځ د اړیکو پیاوړي کول او د واټن له منځه وړل وبلل.



وروسته د افغانستان د کرنې او مالدارۍ تولیداتو خونې رئیس خان محمد فروتن په خپلو خبرو کې اسلامي امارت سره د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ او په بېلابېلو برخو کې یې خپلې غوښتنې او وړاندیزونه له ډاکتر ملا عبدالواسع سره شریک کړل.
خان محمد فروتن د دې ډول غونډو جوړول اړین وبلل او ... ۷مخ

### وزارت عدلیه:
## بیشتر از ۷ هزار جریب زمین از نزد غاصبان واپس گرفته شد

شریعت: کمیسیون جلوگیری از غصب زمین در ادامه تلاش‌ها برای واپس گیری زمین‌های غصب شده ۷٤۳۳ جریب زمین را در شماری از ولایت‌ها از نزد غاصبان واپس گرفته است. ص۷

## د افغانستان بانک د عالي شورا غونډه تر سره شوه

د افغانستان بانک په حضوري او آنلاین ډول د دغه بانک د عالي شورا غونډه جوړه کړه.
د دغې غونډې د جوړولو موخه، د اوسنیو شرایطو په پام کې نیولو سره د مناسبو پولي سیاستونو پلي کول او د بانکي سکتور د ټینګښت په اړه خبرې او پرېکړې ویل شوې دي.
د باختر آژانس د خبر له ... ۷مخ



## د ۲۵۰ روږدو کسانو درملنه وشوه

شریعت: هغه ۲۵۰ تنه روږدي کسان چې ۴۵ ورځې د معتادینو په سل بستریز روغتون کې تر درملنې لاندې ول له رغېدو وروسته د یو لړ مراسمو په ترڅ کې کورنیو ته یې وسپارل شول.
د عامې روغتیا وزارت مالي او اداري معین، مولوي ... ۷مخ

## ننګرهار کې د ۴۵ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه سړک رغولو چارې پیل شوې

شریعت: د جلال آباد د ښاروالۍ مسوولین وايي، چې د دغه ښار د اوومې ناحیې په موی مبارک سیمه کې د ۴۵ میلیونو افغانیو په لګښت د ۲.۸ کیلومتره سړک د رغولو چارې پیل شوې دي.
د جلال آباد ښاروال ملا نعمت الله اخند وویل، چې دغه ... ۷مخ



## ننګرهار او بامیانو کې له څه باندې ۳ زره نجونو د دولسم ټولګي کلنۍ ازموینه واخیستل شوه

د ننګرهار او بامیانو د پوهنې ریاست مسوولین وايي، چې په دغه ولایتونو کې یې له دوولسم ټولګي د نجونو زده کوونکو څخه د آزموینو لړۍ پیل کړې ده.
د ننګرهار د پوهنې ریاست مسؤلینو د باختر آژانس خبریال ته وویل، چې د پوهنې وزارت د پرېکړې له مخې د ننګرهار په حصارک، شېرزاد، پچیراګام، خوګیاني، او کوټ ولسوالیو کې د نجونو په ۱۷ لېسو کې د دوولسم ټولګیو ۴۸۰ تنو نجونو څخه د آزموینې لړۍ پیل شوه او پاتې نورو ولسوالیو کې به هم ژر پیل شي.
د یو بل خبر له مخې؛ د بامیانو د پوهنې ریاست له خوا هم په دغه ولایت کې د دوولسم ټولګیو له ۲ زره ۸۸۲ نجونو د آزموینې لړۍ پیل کړې ده.

## غزني: د تیر کال په پرتله، د مستوفیت عواید ۲۰ سلنه زیات شوي

شریعت: د غزني مستوفیت مسوولین وايي، چې د دغه ولایت د مستوفیت په عوایدو کې د تېر کال په پرتله ۲۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی.
د غزني د مستوفیت رئیس مولوي ضیاءالحق عثمان د دغه اداري د کلنۍ راپور ورکونې په غونډه کې وویل: په داسې حال کې چې مالیې وزارت د اصنافو مالیات له ۱.۵ سلنې څخه ۰.۵ سلنې ته راکم کړي خو لا هم د دغه اداري عواید د تېر کال په پرتله ۲۰ سلنه زیات شوي دي.
د غزني مستوفي مولوي ضیاءالحق عثمان وویل، چې سږ کال مالیې وزارت د غزني مستوفیت ته ۴۸۹ میلیون افغانۍ عواید ټارګیټ ټاکلي وو، خو دوی له حمل میاشتې... ۷مخ



## د پکتیکا ګیان ولسوالۍ کې زلزله ځپلو ته د کورونو جوړولو چارې روانې دي



د پکتیکا ولایت د ګیان زلزله ځپلې ولسوالۍ کې د کورونو جوړولو چارې په منظم ډول روانې دي، چې کارونه به یې په لنډ وخت کې بشپړ شي.
د طبیعي پېښو په وړاندې د مبارزې ریاست رئیس مولوي مطیع الله منصور وویل، په ګیان ولسوالۍ کې د بېلابېلو مؤسساتو له لوري د کورونو جوړولو سربیره څاه ګانې، تشنابونه، دیني مدرسې او د مسجد کارونه اتیا فیصده شوي او پاته کارونه به یې په لنډ وخت کې بشپړ شي.
مولوي منصور وویل، د IOM مؤسسې له لوري ۱۸۴۵ کورونه، د سویډن ۵۰، د بشري پېښو ۱۰ کونډو ته یو مسجد او یوه دیني مدرسه، د اغا خان خیریه بنسټ له لوري ۵ د څاه ګانو کېندل، آویک ۳۴۵ کورونو ترمیم، اکتېډ ۴۹ تشنابونه، یونېسیف ۷۵۰ تشنابونه او کریډېټ مؤسسو له لوري کارونه روان دي، چې اتیا فیصده بشپړ او پاته نور کارونه به یې په لنډ وخت کې تکمیل شي.
د یادونې وړ ده، په ګیان او برمل ولسوالۍ کې د مؤسساتو له لوري کارونه په چټکۍ سره روان دي، چې په برمل ولسوالۍ کې یې د کورونو کارونه ۹۵ فیصده بشپړ شوې دي.

## کندهار کې ۱۹ کیلو ګرامه نشه يي توکي کشف او ضبط شول

د کندهار د امنیې قوماندانۍ مسوولین وايي، چې د دغه ولایت د نشه يي توکو سره د مبارزې پولیسو ۱۲ کیلو ګرامه نشه يي توکي نیولي دي.
د باختر آژانس د خبر له مخې؛ د کندهار د امنیې قوماندانۍ د نشه يي توکو سره د مبارزې پولیسو دوه تنه له ۱۲ کیلو ګرامه نشه يي توکو سره یوځای نیولي دي.



د مسوولینو په خبره، نیول شوي کسان به له لومړنیو څېړنو وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته وسپارل شي.

## ننګرهار کې د کانال په څمکه د مالتړو نوي ښونه جوړېږي

شریعت: د ننګرهار ولایت کانال ریاست رئیس مولوي غلام الرحمن کظیم وايي چې د کانال په څه باندې پنځه نیم زره جریبه ځمکه د مالتړو نوي ښونه جوړه وي.
دامهال د کانال په ۱۲ زره جریبه ځمکه د مالتړو ښونه جوړ شوي او دولت ته ترې هر کال په میلونونو افغانی عائد ۷مخ

### کابل ښاروالی:
## له کمپنۍ څخه تر برچي پورې د استملاک شویو کورونو مالکانو ته یې حقونه ورکول کیږي

شریعت: کابل ښاروال مولوي عبدالرشید، له کمپنۍ څخه تر برچي پورې د نښلوونکي سړک په اوږدوکې د استملاک شویو کورنو د ویجاړولو او نورو خنډونو د لرې ... ۷مخ



توجه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!

شریعت
شریعت جریده داسلامي مبارزې یو رسا غږ او رښتینې هینداره ده، نو له ټولو مخلصو او با احساسه دعوتګرانو او دردمنو لیکوالانو هیله من یو چې موږ سره خپلو قلمي همکاریو ته دوام ورکړي.